بالجوابات السيفية

فى رد الفرق

الضالة المضلة المبتدعة

۷۸۶

یا اللہ جل جلالہ — یا محمد صلی اللہ علیہ وسلم

قال اللہ تبارک وتعالیٰ فی کتابہ المجید

فاسئلوا اھل الذکر ان کنتم لاتعلمون

الحمد للہ الذی وفقنا لطبع ھذہ المجلۃ النافعۃ المسمّی

بالجوابات السیفیۃ
فی ردّ الفرق
الضالّۃ المضلّۃ المبتدعۃ

تالیف الخلیفۃ الشریف

جناب شیخ المشائخ قطب الدوران فرید اوان غوث الزمان مجدد ملت قاطع الشرک والبدعت والضلالت محی السنۃ النبویۃ المصطفویۃ المشرف من اللہ تعالیٰ بمقام الصدیقیۃ والقیومیۃ والمجددیۃ استاذ العلماء المحدثین شیخ القرآن والحدیث حضرت العلامۃ مولانا آخندزادہ سیف الرحمن قدس سرہ المنان

المترجم مع ترتیب والتصحیح

خادم الاولیاء والعلماء المولوی محمد عبدالسلام

الصابری القندھاری ثم الارزگانی

دار العلوم العربیۃ الحنفیۃ السیفیۃ

د کتاب پیژندنه

- دکتاب نوم: الجوابات السيفية
- مؤلف: حضرت مولانا آخندزاده سيف الرّحمٰن صاحب
- مرتب و مترجم: مولوی محمد عبدالسلام الصابری القندهاری
- کمپوزر: نجيب الله شاهد Mob: 0300-5954961
- کمپوز ځای: مرکز کمپوزنګ تخارستان takharistan@parsimail.com
- ناشر: مدرسة دار العلوم العربية الحنفية السيفية

فهرست کتاب

Scanned by CamScanner

Scanned by CamScanner

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

اعتذار نامه

محترمو ناظرینو لکه څرنګه چه تاسوته اظهر من الشمس ده چه په هر زمان اوهرمکان کښې دحق پرسته فقراء طریقت معاندین حاسدین منکرین موجود وي او مشائخ د طریقت په هیڅ ډول په خپل حال نه پریږدی او تهمتونه او افتراګانې او غلطې پرپکنډی وریسې کوی او فقراء او مشائخ د طریقت په هروخت اوهر مکان کښې دډغه منکرینو حاسدینو دپاره خوله ماتونکي جوابونه کړیدی او دحاسدینو منکرینو جالونهٔ ورته هباءً منثوراً ګرځولي دی. مثلاً دحضرت سیدنا شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره په مقابل کښې معاند حاسد ابن جوزي ولاړوو خوپه هغه مبارك نی هیڅ اثرهم ونه کړو صرف منکر خپل،خان رسوی او شرمنده کړو همدارنګه د حضرت سیدنا امام ربانی مجدد الف ثانی قدس سره په مقابل کښې معاندین او حاسدین علماء دخپل وقت وو چه اکبر باچاته په دروغو حیله جوړه کړه او پرپکنډه

نی جوړه کړه او هغه مبارك شخصيت ئی د اکبر باچا په لاس جیل ته ولیږلوهمدارنګه دحضرت العلامه مولانا خالد نقشبندی قدس سره په مقابل کښی علماء دخپل وخت راپورته شو دعناد او حسد لاره ئی اختیار کړه بیا مفتی محمد آمین شامی دمنکرینو په رد کښی د سل الحسام الهندي په نوم سره يوه رساله وليكله اومنکرینوته ئی خوله ماتونکی جوابونه ورکړل او د دوی خوارئی هباءً منثوراً وګرځوله همدغه رنګه په نن عصر کښی د سیدنا شیخ المشائخ حضرت مولانا آخند زاده سیف الرّحمٰن قدس الله سره المنّان په مقابل کښی معاندین حاسدین شته چه دده مبارك روح مجروح کوی او قسما قسم افتراګانی او تهمتونه وریسی کوی.

فلهذا ټولو مسلمانانوته مونږ دا خبر ورکوو چه د مفتریانو په افتراګانو سره دهوکه نشی مونږ ته یادغه کتاب ته مراجعه اوکړی. ترڅو خان د بدګمان نه بچ کړی ځکه چه الله ربّ العزت فرمائی (ان جائكم فاسق بنبإٍ فتبينوا) همدارنګه حدیث شریف دی چه پیغمبر ﷺ فرمائی (ظنوا المومنین خیراً مالا ترىٰ شرهم) همدارنګه بل حدیث شریف دی (كفىٰ بالمرء كذباً ان يحدّث بكلّ ماسمع) نو په مضمون دمذکور بیان او منصوصی احکامو سره باید چه هر مسلمان خان دسوء ظن نه بچ کړی.

فقیر مولوی محمد عبدالسلام صابری القندهاری

موجبه او باعث تحریر

دا رساله د شریعت یار دهغه اعتراضونو په جواب کښې لیکل شویده کوم چه د صراط دجریدې په ۲۰/ ۱۰/۶۰ ۶۵ گڼه کښې چهاپ شویده نو ددې دپاره چه ښاغلي لوستونکي په موضوع کښې قضاوت وکړې شي نو مناسب گڼړم چه د شریعت یار اعتراضونه مخکښې گرانو ورونوته وړاندې کړم.

اعتراضات دمنکرینو

مونږ دصراط په جریده کښې څنې کلمې وکتلې چه دطریقت پو پیرته منسوب دي که دا کلمې دهرچا وینا وي په داگه یومخلوق ته څنې صفتونه ثابتوي چه هغه دالله تعالى نه بغير بل چاته نه ثابتيږي.

دا هغه کلمات او صفات دي چه منکرین پرې اعتراض لري

لکه مرشد، کامل،[1] اکمل العصر، قیوم زمان، غوث جهان، شهباز لامکان. همدارنگه نې نور اعتراضونه هم کړیدي او افترا گانې[2] ماته يا د طريقت نورو مشانخوته منسوب کړیدي لکه امام رباني صاحب ته[3] دا افتراء منسوب کړیده چه "الصوفي لا مذهب له" یا داچه امام پسي به الحمدلله روسته لولي وغيره وغيره: (نه مکمله)

موجبه او باعث تحریر

دا رساله د شریعت یار دهغه اعتراضونو په جواب کښې لیکل شویده کوم چه د صراط دجریدې په ۲۰/ ۱۰/۶۰ ۶۵ گڼه کښې چهاپ شویده نو ددې دپاره چه بناغلي لوستونکی په موضوع کښې قضاوت وکړی شي نو مناسب گڼم چه د شریعت یار اعتراضونه مخکښې گرانو ورونوته وړاندې کړم.

اعتراضات دمنکرینو

مونږ دصبراط په جریده کښې خنې کلمې وکتلې چه دطریقت یو پیرته منسوب دی که دا کلمې دهرچا وینـاوی په ډاگه یومخلوق ته خنې صفتونه ثابتوی چه هغه دالله تعالی نه بغیر بل چاته نه ثابتیږی.

دا هغه کلمات او صفات دی چه منکرین پری اعتراض لری

لکه مرشد، کامل، اکمل العصر، قیوم زمان، غوث جهان، شهباز لامکان. همدارنگه نی نور اعتراضونه هم کړیدی او افترا گانې ماته یا د طریقت نورو مشانخوته منسوب کړیدی لکه امام ربانی صاحب ته دا افتراء منسوب کړیده چه "الصوفی لا مذهب له" یا داچه امام پسی به الحمدلله روسته لولی وغیره وغیره؛ (نه مکمله)

دشریعت یار خپل بیان

او بیا شریعت یار خپل اولنی قول رد کړیدی او لیکلی نی دی چه دمرشد اطلاق په هر چا روا دی په دی شرط چه چاته نی لار ښودلی وی خواه که حسی لاروی او که معنوی لاروی نو په داسی انسان باندی دمرشد اطلاق کیدی شی کومه بدی پکی نشته. همدارنګه بیا د کامل لفظ په اړه لیکی: چه کامل لفظ دوه معنا وی لری یوه معنیٰ داده چه ددغه موصوف سړی خلقت کامل دی په صورت او اعضاؤ کښی او په اعتبار دبدن سره هیڅ نقص نلری همدارنګه دینی مروج علم او دنیوی مروج علم نی پوره کړیدی نوداسړی پدی معنیٰ سره کامل دی نو دکامل لفظ اطلاق په پورتنی معنیٰ سره په هرچاکیدی شی په دی شرط سره چه پورتنی معنیٰ په هغه شخص کښی موجوده وی اما مونږ ګمان نه کوو چه دپیر صاحب دغه پورتنی معنیٰ مراد وی.

دلفظ کامل دویمه معنیٰ د منکرینو دخولی نه

بله معنیٰ داده چه دغه شخص کامل دی دخدائی تعالیٰ ﷻ قرب نی حاصل کړیدی دمقربینو څخه دی واجب الجنت دی مونږه وایو چه دکامل اطلاق پدی دویمه معنیٰ سره په هغو بنده ګانو باندی چه هغه پیغمبران او مبشر

باالجنت نه وی حرام دی ځکه چه الله تعالی ونیلی دی. فَلا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَى یاخو دکامل دا معنیٰ ده چه پیرته ځنی صفتونه په ریاضت اوعبادت سره حاصل شویدی لکه علم غیب او په جهان کښی تصرف مونږ وایو چه د کامل اطلاق په دی معنیٰ سره دالله تعالیٰ نه غیر په بل هیچا روانـدی ځکه چه دغه صفتونه د ربوبیت صفتونه دی او د ربوبیت ټول صفتونه په الله تعالیٰ پوری خاص دی په بل چانی اطلاق نه کیږی.

دمنکر تبصره د مکمل په کلمه باندی

بیانی د مکمل په کلمه باندی داسی تبصره کړیده چه دا کلمه هم لکه د پخوانی کلمی غوندی دوه معناوی لری اوله معنیٰ نی داده چه ځنی ناقص شیان کاملولی شی او بیانی لیکلی دی چه دمکمل لفظ اطلاق په پورتنی معنیٰ سره دهر بنی آدم صفت کیدی شی نو اطلاق نی په یوخاص سړی باندی بی وقوفی ده نو یقیناً چه دپیر صاحب دغه معنیٰ مراده نده.

دلفظ مکمل دویمه معنیٰ دمنکر دخولی نه

دمکمل دویمه معنیٰ داده څوك چه له خدائی ﷻ نه لری وی هغه خدائیﷻ ته نژدی کولی شی نو ددی کلمی اطلاق په دویمه معنیٰ سره دخدائیﷻ نه بغیر په بل

چانډي روا څکه چه داهم دربوبيت واضحه معنیٰ ده او
په خدائي پورې خاصه ده او دلته هم ظاهراً پير صاحب
دمکمل کلمې څخه دويمه معنیٰ چه د ربوبيت معنیٰ ده
مراده کړيده.

دمنکر تبصره د اکمل العصر په کلمه باندې

بيانې ليکلي دي چه د اکمل العصر هم دکامل کلمې
په څير دوه معنا وي دي او دهغې په شان حکم نې
ورکړيدې.

دمنکر تبصره دقيوم زمان په کلمه باندې

او"دقيوم زمان په باره کښې ليکي چه د علماؤ په اتفاق
سره دقيوم اطلاق غير د الله ﷻ نه په بل چاباندې رواندې
لکه درحمن اطلاق چه په غير الله باندې رواندې څکه چه
قيوم هغه ذات ته وئيل کيږي چه ازلاً او ابداً ثابت او قائم
وي اودهرشي حافظ او ساتندوی وي او هرشي ته ئې دهغه
دبقا اسباب ورکړي وي او داهم د ربوبيت صفت دی.

دمنکر تبصره دغوث جهان په کلمه باندې:

بيانې ليکلي دي چه دغوث معنیٰ هم دوه ډوله ده
لکه څرنګه چه تير شو په پورتنې مضمون کښې.

همدغه رنګه نورکسان دي چه هغوی اعتراضونه په نورو

الفـاظو بانـدي كـوي لكـه شـهباز لامكـان شـو او شهنشـاه خراسـان شـو او علـوم لامتنـاهي شـو او بعـض منكرين نـوزي افتراګاني هم راته منسوبه وي لكه دعوه دنبوت يا تپول عالم ته دكفر نسبت كول العياذ باالله منها . وغيـره وغيـره اوس به موږ نمبر واره د دوي داعتراضاتو جوابونه ستاسو په خدمت كښې وړاندې كړو. انشآءالله تعالى بتوفيق الملك العلام.

او دلوستونكو محترمونه دا تمنا لرو چه زموږ دلائل دي د انصـاف پـه نظـر سـره مطالعـه كـړي بيـا دي خپلـه قضاوت وكړي چه حق همدا دي اوكه نه دي. (همدغه وه موجبه او سبب د تاليف ددي رسالي)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله والصلوة والسلام على سيد الانبياء وعلى اله واصحابه الذين هم نجوم الاقتداء والاهتداء

اول حمد او ثناء هغه الله لره ده چه دعدم نه ئي ټول عالم که خلق دی او که امردی وجودته راوړی دی او بيا درود په محمد رسول الله ﷺ دی چه دی خاتم النبين دی.

پس له جمل ثلاثه ونه زه فقير سيف الرحمن آخندزاده بن قاری سرفراز د صراط جريدی محترمو نشرکونکو او لوستونکو په خدمت کښی دا عرض کوم او دا حقيقت واضح کول غواړم.

تعارف دمولف

چه زه د الله ﷻ يو عاجز بنده يم چه په تمام مخلوقات کښی راته په اعتبار د ذوق سره بل هيڅ څوک دخپل خان نه ادني په نظرنه راځی او زه دخاتم النبين حضرت رسول اکرم ﷺ امتی يم او دحضور ﷺ په ختم نبوت باندی کلك اعتقاد ساتم او په فروع او فقه کښی دحضرت امام الائمة دغور مقام حضرت امام اعظم ابوحنيفه نعمان بن ثابت کوفی رحمه الله مقلديم او په علم کلام او عقائدو کښی

داهلسنت والجماعت عظيم پیشوا حضرت امام ابومنصور ماتوریدی رحمه الله تابع یم او په تصوف او طریقت کښې دحضرت خواجهٔ بزرګ محمد بهاء الدین شاه نقشبند قدس سره او دحضرت امام ربانی الشیخ احمد سرهندی قدس سره او دحضرت سیدنا شیخ عبدالقادر جیلانی قدس سره اوحضرت شیخ خواجهٔ معین الدین چشتی قدس سره او دحضرت شیخ شهاب الدین سهرور دی قدس سره د تعلیماتو تابع یم او ددغی بزرګان دین باالواسطه مریدیم او خصوصاً په طریقهٔ نقشبندیه کښې اول پیر د بیعت زما حضرت مولانا شاه رسول طالقانی صاحب دی چه اول سبق د لطیفهٔ قلب ئې راته تلقین کړی ؤ بیا پس دوفات دهغه مبارک نه نور سبقونه د لطیفهٔ روح نه نیولی بیا ترنفی اثبات پوری او مراقبات د مراقبهٔ وقوف قلب نه نیولی بیا ترلاتعین پوری می دا ټول دحضرت شیخ المشائخ استاذ العلماء رئیس الاتقیاء تاج الاصفیاء حضرت مولانا محمد هاشم سمنګانی قدس سره نه کسب او پوره کړیدی بیا پس دهغه مبارک د اذن د ارشاد او خلافت نه په اجازه دهغه مبارک دپیر طریقت او رهبر شریعت شیخنا محترم الحاج خلیفه خدائی نظر قدس سره چه مشهور په حاجی صاحب دپچیروه په طریقهٔ عالیهٔ قادریه شریف کښې دهغه مبارک مرید شوم او فی

الحال نی ۹ سبقونه په يوخاني يعنی په اول صحبت کبنی راکړو او په طريقهٔ چشتيه کبنی می دحضرت محبوب سبحانی مولانا محمد هاشم سمنگانی نه کسب وکړو همدارنگه په طريقهٔ عاليهٔ سهرورديه کبنی کسب می د حضرت مولانا محمد هاشم سمنگانی نه کړيدی خو پدی طريقه چه حضرت مولانا صاحب محمد هاشم سمنگانی قدس سره تهٔعرض وړاندی کړو د طريقهٔ سهروردی شريف د اسباق په حقله بيا هغه مبارك راته وفرمائيل چه ما دحضرت مولانا صاحب شاه رسول طالقانی قدس سره نه اخذ کړيدی روحانيهٔ نوته لاړشه يوخلی دهغه مبارك نه اجازه واخله بيا به زه درته اجازه وکړم پس دهغه نه بيا زه لاړم دحضرت مولانا شاه رسول صاحب قدس سره زيارت له کله چه هغه مبارك اجازه روحانيهٔ راته وکړه پس دهغه نه بيا راغلم حضرت مولانا صاحب محمد هاشم سمنگانی قدس سره ته چه طريقه د تعليم او اجازه بيا هغه مبارك راته وکړه او د علم ظاهری تحصيل مي د افغانستان د علماء و او مختلفو اساتذه و سره کړيدی دامی معمول دی چه زه خپله او همدارنگه په خپل اولاد او مريدانو باندی اتيان د فرائضو واجباتو سنتو مستحباتو کوم يعنی عمل پری کوم او اجتناب د محرماتو مفسداتو مکروهاتو مشتبهاتو کوم يعنی منع تری کوم حتی چه په

ترك دي مستحب او اتيان دي مكروه باندي هم ډير سخت خفه كيږم دامې معمول دی خاص دخپل خان دپاره او بيا د ټولو مريدانو او اولاد دپاره او عام بيا دټولو مسلمانانو دپاره دا خوښه ګنړم فقط.

اصل مطلب ته راځم

کله چه زه چاته په عربي لسان کښې خط ليکم نودخپل دسخط سره (الفقير سيف الرحمن آخند زاده پير ارچي خراساني) ليکم اوکه په پښتو يا فارسي ژبه کښې چاته خط ليکم نودخپل دسخط سره بيا (فقير سيف الرحمن آخندزاده پير ارچي خراساني) ليکم داهرچاته معلومه ده.

شريعت يار ته خطاب

دغه کارت چه دصراط په جريده کښې نقش دی دا په لاهور کښې د حاجي عبدالغفور دی او هغه چهاپ کړيدی دا په ما پوري هيڅ اړه نلري دعقل خاوندان خپله پوهيږي او تميز لري خکه هيڅ يوذي عقله او باشعوره باتميزه انسان هيڅ کله دانه باوره وي چه کوم يوپير خپل خان ته په خپله مرشد من ونيلي وي خکه چه دا دعقل او نقل دوانړو خلاف خبره ده ليکن منصف چه غير متعصب وي هغه خپله په دی پوهيږي چه دا عبارت دمريد دی چه خپل پيرته ئي ليکلی دی خو خه ووايو دحاسدينو سترګی په هرخاني کښې بی

نوره او رندی ذی ماخپله دا نسبتونه خپل خان ته نه دی کړی بلکه زما بیان په پورتنی تعارف سره تاسوته تیرشو خوکه دچاسره عقل وی هغه خپله پوهیږی.

دصراط جریدی والا سهوه

غرض دادی چه یا دکاتب سهوه ده او یا دصراط جریدی نه سهوه شویده چه زما په پیرانو کښی تقدیم او تاخیر کړیدی او زما پیران په دغه ترتیب سره دی چه تاسوته مو آنفاً عرض او بیان کړو تاسو مهربانی وکړی دغه مذکور زما بیان په غور سره مطالعه کړی چه علم درته حاصل شی او په حقیقت پوه شی او د صراط جریده والا سوه درته معلومه شی.

د صراط جریدی والابله سهوه

بله سهوه دا شویده چه دوی لیکلی دی چه ولسوال محمد حسن ولسمل زمونږه د قیام مخ نیوی وکړو او د دی قول نسبت نی مونږته کړیدی.

ددی واقعی اصلی حقیقت داوو چه مونږ دکمونیزم مقابله کوله

داسی نه ده لکه دوی چه بیان کړیدی بلکه اصل خبره دا ده چه مونږه دوه ورځی سره دا سلحی دارچی بازارته په هغه

ورځو کښې تلو چه په سنه (۱۲-۲-۱۳۵۱) کال کښې دکمونستو مظاهري وی او بیا زمونږه مخ نیوی نه دی شوی مګر ولسمل یوکرتی په دویمه ورځ یوازی بی سپاهیانو را حاضر شو اما دومره نی وونیل چه دقندز والی نن تلیفون راکړی ووځ چه دارچی علماء دوه ورځی سر په سرد اسلحه سره بازارته وزی دا دحکومت بی حرمتی ده چه دوی نی کوی نوزه اوس تاسوته سوال کوم چه دکمونیزم دمظاهری ورځ پرون وه بیانه راوځی خکه چه ستاسو مقابله نی ونکړی شوه او دکمونستو مظاهری وی خو سرکال دوی ناکام شو بعضی له دوی نه پټ په پټه د ارچی نه خواجه غار ته لاړو او بعضی په کورونو کښی غلی کیناست. پس له دی بیان نه بیا ولسوال لاړو اومونږه خپلی مبارزی ته ترمابنامه دوام ورکړو او په خپله مبارزه کښی خدائی کامیاب کړو. داووځ دمبارزی اصلی بیان تردی خانی پوری.

د صراط جریدی بله سهوه او دمنکرینو تنقیدات

بعض منکرینو دا خبره خوره کړیده چه پیر صاحب دکمونست صفت شروع کړیدی او د صراط جریدی والانه هم دلته سهوه شویده بلکه ما داسی ونیلی ووځ چه د کمونیزم د کودتا د راتګ سره می سکوت اختیار کړو چه نه می بنه ونیل او نه می په ظاهره هغه وینا وی کولی

کوم چه ما به قبل دهغی نه کولی صرف د کمونستو خاصو کسانو ته چه زمونږ د تعقیب دپاره به راتلو دخان د فرصت د پیدا کولو دپاره دومره به می ونیل چه نور محمد ترکی وائی که چا اول دوه رکعته مونځ کولو اوس دې شل رکعته کوی او دابه می د دوی دمخه ونیل چه دمانځه او عبادت څخه نه یم منع شوی داتولی ویناوی به ماکولی دا صرف د دوی دغلطی دپاره چه خان دگرفتاری نه بچ کړم پس دخلورو میاشتو د سری کودتا نه بیا ماهجرت وکړو چه په هغه وخت کښی د دوی دمادو یعنی فرمانونو، د اعلانولو شروع لانه وه شوی. اصلی واقعه داوه نه هغه چه منکرین وائی کلا وحاشا.

دجهاد دمرحله اوامر دجهاد

زما ورور معاون فضل الرحمٰن به کارتونه او دعضویت ورقی او راپورونه زمونږ په امر او اعانت سره د پیښورته د افغانستان سمت شمال اتو ولایتونوته وړه چه د اتو ولایتونو تنظیم دمولوی عبدالحی زعفرانی صاحب ترقیادت لاندی پیاوړی او منظم شو چه اکثر امیران او قوماندانان نی زما خلفاء وو چه اولنی قیام زما دملحدینو په مقابل کښی د پیلخمری او چهار دری او په قلعه زال کښی وو چه په نتیجه کښی شپیته غری

زما مریدان او خلیفه گان د پیلخمری چه میز عبدالغفور صاحب بل صوفی حبیب الرحمٰن دریم زما دمرشد مبارك مولانا صاحب محمد هاشم سمنگانی قدس سره وروز جمعه گل چه هغه هم زما خلیفه وؤ او نور دمزار شریف نه دری کسان چه یو مولانا عبدالله ساعت ساز او دوه دده ورونه زما د فضل الرحمٰن ورور په شمول باندی دخلور شپیته کسانو سره اکثر دهغوی نه زمونږ مریدان هم وؤ دبابر په هوټل کښی گرفتار شو او دا ټول هلته شهیدان او مفقود الاثر شو انا لله وانا الیه راجعون.

زمونږ د جهاد په نتیجه کښی دجنګ په ډګر شهیدان

بل یوزما خلیفه دتالقانو آمر مولوی رحمت الله تالقانی چه په هزار باغ کښی شهیدشو یوځه تعداد زما نور مریدان خلیفه گان چه دمبارزی په ډګر کښی قربانی شوی دی په لاندی ډول سره لیکلی دی:

۹- مولوی عبدالغفور قره، د شرین تګاب ولسوالی د فاریاب ولایت.

۱۰- خلیفه مولوی محمد آمین ، دنیازی کلی د علینګار ولسوالی د لغمان ولایت.

۱۱- خلیفه مولوی عبدالخالق د خان آباد ولسوالی د

کندز ولایت.

۱۲- خلیفه ملاسید حبیب د کوټ د دری دسید احمد خیلو دکلی د ننگرهار د ولایت.

۱۳- خلیفه محبت خان دکوټ د دری د قلعه والو دکلی د ننگرهار د ولایت.

۱۴- مولوی محمد ابراهیم مشهور په همیم صاحب د بهسودو د علاقه داری د ننگرهار ولایت.

۱۵- مفتی عبدالاحد د آمر خیلو د کلی د سرخرود د ولسوالی د ننگرهار ولایت.

۱۶- خلیفه مامور عبدالقدیر قوماندان او د ده ورور د پورتنی خانی اوسیدونکی.

۱۷- داملا غوث الدین دهشکه د پښتونکوټ دولسوالی او سیدونکی د فاریاب ولایت.

۱۸- خلیفه محب الله حافظ القرآن د مغُلو دکلی د درز آب ولسوالی د فاریاب ولایت.

۱۹- خلیفه قاری محمد ابراهیم دخوشتر بلاغ دکلی د درزآب ولسوالی دفاریاب ولایت.

۲۰- مولوی عبدالمتین آخندزاده د قندهار ولایت او دبنار اوسیدونکی.

۲۱- ملافقیر محمد آخندزاده دپیاور خیلو دکلی د ډاکټر گل محمد ورور دلوگر ولایت او دمرکز.

۲۲- خلیفه مولوی خان گل چه په قندهار ملامشهور دی

دقندهار ولایت.

۲۳- مولوی محمد آمین دخواجه پستی دکلی دکندز ولایت اوسیدونکی.

۲۴- عبدالرزاق دکول د امان او د امام صاحب دولسوالی د کندز ولایت.

۲۵- ملا عبدالاحد د شمنګل دکلی اوسیدونکی دلغمان ولایت.

۲۶- حاجی سخی جان دسعادت مند دکلی د رودات دولسوالی د ننګرهار والایت.

۲۷- امام رسول آمر دمجاهدینو دخواجه غار ولسوالۍ د تخار ولایت.

دا ټول هغه کسان دی چه د کلمة الله العلیا دعلوی دپاره مونږ جهادی مرحلی جاری ساتلی او ذوی د شهادت جامونه نوش کړو.

خلاصه د پورتنی مضمون

پاسنی شهیدان چه دشمیر په قید کښی راغلی دی د طوالت دموضوع نه دمخنیوی په خاطر دی ورنه ددغه شمیر نه څو چنده زیات قوماندانان چه هغه زما خلیفه ګان دی او ما ذونان دی او دخلافت په مقام مشرف شوی کسان ؤ چه دجګړو په اوږدو کښی دهغوی ارواح عالم ملکوت ته پرواز اوکړو او دا ټول زما معنوی اولاد بلل کیږی.

اولاد په دوه قسمه دی

او حال دادی چه اولاد په دوه قسمه دی صوری و معنوی قال اسماعیل حقی بروسوی فی تفسیره روح البیان (ج۲ ، ص۲۶) فکل نبی یتبع نبیاً آخر فی التوحید والمعرفة وما یتعلق بالباطن من اصول الدین فهو ولده کاولاد المشائخ فی زماننا هذا وکما قیل الاباء ثلاثة ۱: اب ولدك. ۲: و اب رباك. ۳: و اب علمك. وکما ان وجود البدن فی الولادة الصوریة یتولد فی رحم امه من نطفة ابیه فکذلك وجود القلب فی الولادة الحقیقیة یظهر فی رحم استعداد النفس من نفخة الشیخ والی هذه الولادة اشار عیسی علیه السلام بقوله "لن یلج ملکوت السموات من لم یولد مرتین".

پښتو ترجمه

اسماعیل حقی صاحب فرمائی: پس هرنبی دبل نبی اتباع کوی په توحید او معرفت او هغه امورو کښی چه تعلق لری تر باطن پوری د اصول الدین نه نوهغه ئی بیا ولد روحانی مسمی کیږی لکه اولاد دمشائخ زمونږ په زمانه کښی لکه څرنګه چه ونیل شویدی پلاران دری دی یو پلار د ولدیت دی او بل پلار د تربیی دی او بل پلار دعلم دی یا لکه څرنګه چه ونیل شویدی چه وجود د بدن

په ولادت صوري کښې دا پيدا کيږي په رحم د مور
خپلې کښې د پلار د نطفې نه همدغه رنګه وجود د زړه
چه دي په ولادت حقيقي کښې دا ښکاره کيږي په هغه
استعداد د نفس د نفخې د مشائخونه قدس الله اسرارهم.

آمدم بر اصل مطلب

کله چه دا ثابته شوه چه مريدان د معنوي اولاد
حيثيت لري نو د متداومې مبارزې په اوږدو کښې د دوی
شهادت زما لپاره به څومره ستونزې وی ددی روحي الم
معيار يو مالك الملوك ته روښانه ده دا ټول زما د جهاد
پيل کولو ښکاره واضحه نښه ده داسې نه ده لکه
منکرين چه وائي آخندزاده صاحب د روسانو مدحه کوی
او جهادنې نه دی کړی العياذ بالله من هذه البهتان
والافتراء والاکاذيب بلکه همدارنګه د حرکت انقلاب
اسلامي افغانستان په ټوټه ټوټه کيدو سره سره د ټولو
تنظيمونو په بې اتفاقي او د مجاهدينو ترمينځ د
برخوردونو په واقع کيدو سره لازيات تره د ستونزو سره
مخامخ شوی يم د غه سې منفي عوامل به څرنګه مونږ بې
ذرده پريږدی داهم زما د اسلام غم خوردنی يو غټه نښه
ده شاعر فرمائي:

تو کـه از غــم دیگــران بــی غمــی
نشــاید کــه نامــت نهنــد آدمــی

د یوبل مفتري افترا او دهغه جواب

همدارنګـه یـو بـل مفتـري دی چـه دغـه افترائـی حضـرت امـام ربـانی مجـدد الـف ثـانی الشـیخ احمـد سـرهندی تـه منسـوب کړیـده هغـه دا قـول دی چـه امـام ربـانی صـاحب قدس سره وئیلی دی چه (الصوفی لا مذهب له).

جواب

نومـا وونیـل چـه دا قـول زه نـه تسـلیموم ځکـه چـه حضـرت امـام ربـانی مجـدد الـف ثـانی قدس سره پـه مـذهب حنفـی بانـدی ډیـر محکـم ولاړدی ځکـه چـه هغـه مبـارك پـه خپلـه دتقلید دمذهب ډیر کلك تائیـد کړیـدی او بیـانی خصوصـاً دمـذهب حنفـی مدحـه بیـان کړیـده او بیـانی افضـلیت د مذهب حنفی پـه نورو مذاهبو بانـدی داسـی ثابـت کړیـدی لکـه دسـمندر دریـاب ونـور ویالوتـه او پـه تائیـد دمـذهب کنبی دغه راتلونکی مکتوب لیکلی دی:

مقلد را نمیرسـد کـه خلاف رائـی مجتهـد از کتـاب وسـنت احکـام اخذ کنـد وبـرآن باشـد ودر عمـل قول مختار از مذهب مجتهدی کـه

پښتـو ترجمـه: مقلـد تـه نـه شـی کـولی چـه خـلاف د رای د مجتهـد دکتـاب او سـنت نـه اخذ د احکام وکړی پـه قول د مجتهـد بـه خـی او پـه عمـل

خودرا تابع اوساخته است اختیار کند واز رخصت اجتناب نموده بعزیمت عمل نماید مهما امکن در جمع کردن اقوال مجتهدین سعی بلیغ نماید تابر قول متفق علیه عمل شود مثلاً امام شافعی رحمه‌الله در وضوء نیت را فرض میگوید بی نیت وضو نکند و همچنین ترتیب در غسل و ولاءً لازم میداند رعایت ترتیب و ولاءً باید کرد وامام مالک رحمه‌الله دلک را در غسل اعضاء فرض می گوید. البته دلک بکند وهمچنین لمس نساء ومس ذکر را ناقض وضوء گفته اند بر تقدیر وقوع لمس نساء ومس ذکر تجدید وضوء بکند علی هذا القیاس جمع دعاء قنوتین. (مکتوب ۲۸۶، ج ۵، ص: ۵۰)

کښې به دخپل مجتهد مختار قول اختیار وي او د رخصت نه به ځان ساتي په عزیمت به عمل کوي خو پورې چه امکان ولري دمجتهدینو د اقوال په جمع کیدو کښې به ډیر کوشش کوي چه عمل په متفق علیه قول باندې راشي مثلاً امام شافعي رحمه‌الله په اودس کښې نیت فرض ګڼړي او بې نیت نه اودس نه کوي همدارنګه ترتیب په غسل او ولاء کښې یعني وینځولو او پیوستوب کښې لازم ګڼړي او امام مالک رحمه‌الله مبنوول په وینځولو کښې فرض ګڼړي او خامخا به مینوول کوي همدارنګه مس کول د ښځو او د ذکر ته ناقض الوضوء وائي یعني اودس پرې ماتیږي چه بیا به دسره اودس نوی کوي بناء پردې قیاس باندې اجتماع دقنو تین به کوي.

دا و دمجدد صاحب مکتوب چه دتقلید په مدحه کښی لیکلی دی داسی نه لکه منکرین چه وائی افتراء نسبت کوی چه الصوفی لامذهب له العیاذ باالله من هذه الافتراء والبهتان والکذب العظیم.

یوه بله سهوه د صراط جریدی والانه

اما یوه بله سهوه دکاتب نه یا دصراط جریدی ولانه واقع شویده چه ماته دا نسبت کړیدی په امام پسی دی الحمدلله لولی.

جواب: ماداسی نه دی ویلی هرچاچه زما دغه قول نقل کړیدی او ماته نی اوریدلی دی هغه شخص زما کلام داول نه تر آخره پوری نه دی اوریدلی خکه چه هغه په عجله کښی ووزما دکلام آخرته نی غوږنه دی نیولی ،ماداسی ویلی ؤو چه حضرت امام ربانی صاحب په رسالهٔ مبدأ معاد په صفحه ۴۷ منها کښی داسی مهربانی کوی:

درسالهٔ مبداء معاد بیان

مدتی آرزوی آن داشت که وجهی پیدا شود وجهیه در مذهب حنفی تا در خلف امام قرائت فاتحه نمودہ آید هرگاه قرائت در

پښتو ترجمه: تربوخه مودی می د آرزو لرله چه یوداسی وجه پیدا شی په مذهب حنفی کښی په قرائت خلف الامام باندی چونکه قرائت په

نماز فرض باشد از قرائت حقیقی عدول نموده بقرائت حکمی قرار دادن معقول نمی شد باآنکه در حدیث نبوی علیه الصلاة والسلام آمده (لاصلوة الا بفاتحة الکتاب) اما بواسطة رعایت مذهب بی اختیار ترک قرائت میکرد واین ترک را از قبیل ریاضت ومجاهده می شمرد آخر الامر حضرت حق سبحانه وتعالیٰ ببرکت رعایت مذهب که نقل از مذهب الحاد است حقیقت مذهب حنفی در ترک قرائت ماموم ظاهر ساخت وقرائت حقیقی در بصیرت زیبا تر نمود که امام وماموم همه به اتفاق درمقام مناجات می ایستد (لان المصلی یناجی ربه) وامام را درین امر پیشوای می سازند پس امام هرچه می خواند بزبان قوم می خواند در رنگ آنکه جماعه پیش پادشاه

مانځه کښې فرض دی نودقرائت حقیقي نه چه عدول کیږی و قرائت حکمي ته داعقل نه باوره وی سره له دی چه په حدیث شریف کښې راغلی چه مونځ بې فاتحې نه شي کاملي دی لیکن په سبب درعایت کولو دمذهب خپل بې اختیاره ترک دقرائت وروسته د امام پسې مې کولو او دا ترک مې دجملې د ریاضاتو مجاهداتو نه شمیرلی وو وبالاخره الله رب العزت په برکت د رعایت دمذهب خپل چه نقل دخپل مذهب نه الحاد دی حقیقت دمذهب حنفي په ترک د قرائت وروسته د امام نه دمقتدی دپاره ظاهر کړو او قرائت حقیقي په نظر ډیر راته روښانه شولو چه امام او مقتدی دوانړه په اتفاق سره په مقام دمناجات کښې ولاړدی ځکه چه مصلی دخپل رب سره مناجات کوی او امام ئې په دی حال کښې رهبر جوړکړیدی پس امام چه

عظیم الشان به حاجتی بروند ویکی را پیشوای سازند تا از زبان همه اینها عرض حاجت نمایدبرین تقدیر اگر دیگران نیز باوجود تکلم پیشوای درتکلم آیند داخل سوء ادب است وموجب عدم رضائی بادشاه است پس تکلم حکمی این جماعه که بزبان پیشوای ادا می یابد بهتر است از تکلم حقیقی اینها. وهمچنین است حال قرائت قوم باوجود قرائت امام که داخل شغب است واز ادب مستبعد وموجب تفرق که منافی اجتماع است: از علوشان امام بزرگ ترین این بزرگ واران امام اجل پیشوای اکمل ابوحنیفه رحمه الله چه نویسد که اعلم و اورع و اتقای مجتهدین است انتهی کلامه الشریف

هرڅه وائی دقوم په ژبه سره ونیل کوی دا داسی مثال لری چه یو جماعت ریعنی ډلهء کسان بادشاه ته دیوحاجت دپاره لاړشی او بیا یوکس په دوی کښی مشروګرځوی دټولو دطرفه دغه یوکس یوحاجت وړاندی کوی، په دی تقدیر که ددغه مشر باوجود نور کسان خبری کوی نودابی ادبی ده اوموجب دناراضی دبادشاه جوړیږی پس اوس نو خبری حکمی ددی جمع غفیری چه په واسطه ددی مشر دبادشاه سرکیږی همدغه رنګه مثال دی دقرائت خلف الامام چه ټول دخدائی حضورته ولاړ وی او یوپیشوا ئی واسطه کړی وی لیکن دپیشوای باوجود ټول لګیائی نودا هم د ادب نه ډیره بعیده خبره ده او نورهم موجب دتفرق جوړیږی چه منافی دی د اجتماع سره جوړیږی.

داو دامام ربانی صاحب تحقیق.

دصراط جریدی والا بله غلطی

بل دکاتب یا صراط جریدی والاته دا سهوه شویده چه دوی په دی ډول لیکلی دی چه مثلاً پرته له اوبو اودس نه کیږی ددی مقام سره دا مثال مناسب نه دی باید چه دوی داسی لیکلی وی چه بی اودسه مونځ نه کیږی سلسل بوله یا دبل عذر والاته که هرڅومره بول یاوینه خارج شی نه مستخرجًا یا قصداً دا فعل کول نودی معذور دی وقتی مونځ به کوی که وخت تیرشی اودس به نی مات شی دبل وخت لمانځه لپاره به بل اودس کوی او که څوك غیر معذور وی قصداً عمداً دمعذور په څیرخان بی اودسه کړی یا ترینه باد خارج شی او لمانځه ته دوام ورکړی نو لمونځ خونی نه کیږی چه لاځان نی نورهم ګنهګارکړو او که باالفرض دغه فعل حلال وګنړی چه دی قصداً د معذور په څیرخان شمار کړی نو بیا به لا کافرهم شی ځکه چه حرام فعل ته ئې دحلال نسبت وکړو دځپله خانه بی دلیل قطعی نه دغه شان مثال دفانی او غیر فانی او دسکر او دصحو او دوحدة الوجود او دغیر دهغه دیح نه ولی لکه ده چه ونیلی دی۔

دبدعت اقسام او تعریف

بل دبدعت په حق له هم وضاحت اوپوره پیان ندی شوی چه تسلی پری وشی لیکن چونکه رساله مختصره ده لږ بیان به وکړو. بدعت هرهغه شی دی چه هغی لره اصل په قرون ثلاثه وکښی او په قرآن او په احادیثو کښی نه وی او هغه رافع دسنتوهم وی نوپس هغی ته بدعت سینه وائی او یو بدعت حسنه دی هغه اګر که اصل نی په قرون ثلاثة وکښی او په ایات او حدیث کښی نه وی خو رافع دسنتوهم نه وی مثلاً دلمانځه نیت په ژبه سره کول او یامدرسی جوړول یا اعراب دقرآن شو یعنی زور او زیر او پیش جوړول یاتدوین دکتابو نو دصرف او نحو او عقائدو یا مثلاً شل رکعته تراویح ادا کول اګر که دتراویحو اصل په سنت او په فعل او قول دصحابه کرامو کښی شته همدغه رنګه کتابونه دعلم حکمت یا دعلم طب او منطق فلسفه وغیره وغیره نور ډیر اشیاء دی چه دټولو اشیاء ذکر او تفصیل له تطویل نه نه وزو خالی بی له طوالته دهغه چیزونو بیان متعذر وؤ خو دلته مونږ د اختصارنه کار واخستو. نو ددغه مذکور علومو تحصیل منعه نه دی اونه پری عامل ګنهګاردی بلکه یوسبب د اسبابودی دنه رو علومو دیاره چه بی له دی هم تحصیل ممکن دی

مگر صرف حضرت امام ربانی مجدد الف ثانی قدس سره دبدعت حسنه په حق له دومره قدری فرمائیلی دی چه په هیڅ بدعت کښې نورانیت نشته داسې نه ده چه په بدعت حسنه باندی دحرام حکم کړیدی نه کلا وحاشا هغې مبارك دحرام حکم نه دی کړی صرف نفی دنورانیت قدری تری کړیده فقط۔

شریعت یارته خطاب او نصیحت

بل دا خبره ده چه شریعت یارچه زه نی سم نه پیژنم او عقیده هم راته معلومه نه ده چه دی مقلد دکوم مذهب دی اوکه نه دی که چیرته لا مذهبه او پنجپیری یاخوارج یاوهابی یاغیر مقلد دنورو فرق ضاله ونه وی نو شایان دجواب ندی اوکله هم تری نه کوم خکه چه دا طائفی دصوفیهوکرامو سره ذاتی دشمنان دی اومنکرین د اولیاؤ دی او علامه عبدالغنی نابلسی استاذ د مفتی محمد آمین شامی پری کللك ردونه کړیدی چه حتی په منکرین الاولیاء باندی دجیدو علماء ویه فتویٰ سره دکفر الحاد حکمونه هم لګولی دی او دهغه حکمونو بیان به په خپل خاٸی باندی راشی مکمل دعبارتو نه سره او دصفحاتو سره داتول به انشاء الله تعالی ستاسو به خدمت کښې وړاندی شی۔

خوارجوته چلینج د جواب

نو دا طائفه دجواب نه ده څکه چه زمونږه او د دوی ترمینځ غټه مسئله دتقلید موجوده ده څکه چه دا طائفه تقلید ته شرك وائی او معیار دحق هم کتاب وسنت گڼړی نودوی دی یوځلی مهربانی وکړی دشرق نه ترغربه دجنوب نه ترشماله دوی ته اجازه ده تریوم القیامة پوری چه دوی دی دکتاب وسنت نه شرك دتقلید ثابت کړی اویا د اجماع او دقیاس نه څکه چه زمونږه ادله د شرعی همدغه څلور دی چه کله دوی شرك دتقلید ثابت کړو نوبیس دهغه مونږ دوی ته جواب ورکوو گڼی اوس لاتق دجواب نه دی او نه مونږ له په کاردی چه خپل سریری اوخوږه وو۔

شریعت یارته په بله طریقه خطاب

اوکه دی مقلد او مذهبی شخص وی نوباید ده دبدگمانی درفع کولو دپاره اودنور وسالکینو او مسلمانان چه دا جریده ئې مطالعه کړی وی اوخه ناخه تردد او خطره ورپیښه شوی وی چه دهغوی شبه رفع شی څکه چه دصراط جریدی په اول مخ کښې شریعت یار نامی څه تنقیدونه او اعتراضونه بلکه حکم دکفرئې کړیدی په هغه چاباندی چه هغې دا کارت لیکلی دی نو

اوس مونږ دا وايو چه هغه کارت چه نی چهاپ کړيدی . هغه زما مريد اوماذون او خليفه دی چه حاجی عبدالغفور نی نوم دی دلاهور دی نوماخپل خان ته دغه صفتونه نه دی منسوب کړی لکه څرنگه چه په باعث تحرير موضوع کنبی دا خبره تيره شوی ده چه ماخپل خان ته دفقير تخلص منسوب کړيدی اوکه شريعت يار دا کارت ماته منسوب کړی وی او دکفر حکمونه نی په ما کړی وی نو بيا دا عظيمه افتراء ده په ماپسی څکه چه وبنياران دی فکر وکړی چه په خپله خان ته هيڅ چاهم مرشد من نه دی ونيلی اونه څوك خان ته دا وائی او په مسلمان باندی افتراء کول او بهتان لگول دا گناه کبيره ده او که څوك روا او حلال وګنړی نو بيا لاکفرهم دی.

بل چاته کافر يافاسق وئيل سړی خپله کافر يافاسق کيږی

او حال دادی چه بل چاته دکفر نسبت کول که هغه شخص کافر نه وی نو بيا قائل پخپله کافر کيږی اويا بل چاته دفسق نسبت کول که هغه شخص فاسق نه وی نوبيا قائل پخپله فاسق جوړيږی دا په مضمون ددی حديث شريف (لايرمی رجل رجلاً باالفسوق ولايرميه باالکفر الا

ارتدت عليه ان لم يكن صاحبه كذالك). (١)

بل چاته په اندك چيز يالفظ محتمل سره كافر وئيل نه دى پكار

علماء داهلسنت والجماعت اتفاق لرى په دى مسئله باندى چه كه ديو شخص (٩٩) اعمال دلالت په كفر دهغه كوى او يو عمل ئى دلالت په اسلام كوى نو دغه شخص ته څوك كافر بالكل نشى وئيلى بلكه دهغه نه به تپوس كوى چه دغه اعمال چه تاوكړو دا حلال اوروا ؤو او كه حرام ناروا ؤو نو بيا كه چيرى هغه شخص ددى اعمالو دحل اوروا عقيده وه چه دا روا ؤو بيا دا شخص كافر دى خكه چه حرامو ته ئى حلال اووئيل دخپل خان نه او كه چيرى هغه شخص ددى اعمالو دحرمت عقيده وه چه دغه اعمال حرام دى خكه دكفر اعمال دى نو دا شخص يقيناً چه مسلمان دى ليكن فاسق دى خكه چه مرتكب دگناه كبائرو دى او مسلمان خكه دى چه اقرار او تصديق په سبب د ارتكاب دگناه سره نه زائليږى او ايمان هم په سبب د ارتكاب دگناسره نه زائليږى خكه چه اقرار او تصديق دا جزاء مقومه و د ايمان څخه دى نه دا جزا مكمله ؤ د ايمان څخه.

---

(١) متفق عليه مشكواة شريف ٤١١.

بيان دخوا رجو دحال په تكفير دمسلمان سره

اوخوارج په يوه گناه سره هم حكم دكفر كوي په مسلمان باندي هغه هم بلاتحقيقه ځكه چه د دوي مدعاهم دغه ده چه يومسلمان بدنام كړي او دهغه دتكفير پرېكندي خوري كړي مخ كښي ددينه چه هغه د دوي ربښي اوباسي داځكه چه بيا په خلقو كښي دهغه شخص خبره تاثير وه نه كړي دوي خپل اشاعت ته وزګار شي او صحيح مسلمان نه دمشرك په نوم يادبدعتي په نوم شهرت وركړي او بدنام ني كړي نجانا الله سبحانه من عقائد هم.

دشريعت يار دعلم غيب دعوه

اوس مونږه خبرنه يو او دعلم غيب دعوه نه لرو اونه كوو لكه شريعت يارچه دعلم غيب دعوه كړيده چه زما دمراد او ارادي نه ني خبري كړيدي ځكه چه ده په خپلو اعتراضاتو كښي دا ليكلي دي چه دپير صاحب دمكمل لفظ نه دويمه معنیٰ چه د ربوبيت ده مراد ده داخبره مونږ په باعث تحرير كښي نقل كړيده اوحال دادي چه شريعت يارنه ماته راغلي دي او نه زما دغه معنیٰ مراد ده چه دمكمل نه دربوبيت معنیٰ ځوك واخلي دا بالكل باطله خبره ده اوس دي ناظرين خپله فيصله اوكړي چه شريعت يار دغيب دعوه وكړه اوكه ونه كړه او دجملي دخوارجونه

نی خان شمار کړی او که نه او د اهلسنت والجماعت حنفی مذهب نه نی خان وېستو او که نه اوس اولاً زه دا وایم چه مومن مسلمان په بل مومن مسلمان ورور باندی باید نیاك گمان وکړی اودخان نه نعوذ باالله منها خدائی جوړنه کړی لکه شریعت یار چه زما دزړه د ارادی نه پوره دی چه دا دعلم غیب خبره ده او اعلان کوی چه دپیرصاحب دا مراد دی بی زما دلیدلونه توبه د داسی جرئت نه په مسلمان باندی چه څوك نی کوی.

چون قلم د درست غداری بود
لاجرم منور برداری بود

راشی د شریعت یار په حال تعجب دی په خپل خان دکفر حکم کوی

یو طرفته شریعت یار دا فیصله کړیده چه څوك د علم غیب دعوه لری نودا دخدائی ﷻ صفت دی او دا سړی کافر دی او بل طرفته په خپله دعلم غیب خبری کوی چه لاتراوسه پوری نه زه لیدلی یم اونهٔ هغه څوك لیدلی دی چه دغه کارت نی چهاپ کړیدی او نه ماورله خپله اراده ونیلی ده اونه دغه کارت والاورله خپله اراده ونیلی ده چه حاجی عبدالغفور دی اوس تاسو ناظرین او علما کرام فیصله وکړی چه شریعت یارچه علم غیب

والانه بغير له خدائي نه كفر وانى او زما د ارادى نه زما په غيابو اعلان كرى چه دپير صاحب دا اراده ده خپل خان ته كافر اووئيل اوكه نه د اوه هغه نتيجه دتعصب او حسد وعناد چه په خان هم پونه شو خپل خان ته دكفر نسبت اوكړي

په مسلمان به دخير گمان كوى

اوحال دادى چه مونږ مامور په حسن ظن باندى يو ترڅو پورى چه دچانه مى شرنه وى ليدلى څكه چه حديث شريف دى (ظنوا المؤمنين خيرا مالا تروا شرهم) او علماء كرام فرمانى چه دهرمسلمان قول ته په امكانى صورت كښى تاويل وركول د مؤمن خاصه ده ترڅو چه په يقين ياپه صريح الفاظو سره هغه شخص مرتد شوى نه وى يا الفاظ كفريه ئى ترخوله نه وى وتلى څكه چه دا اتفاقى مسئله ده زمونږ دټولو احنافو چه اهل قبله وته به په قول مبهم سره چه هغه مستحق دتاويل وى كافر نه وائى كه نه ته به په خپله كافر شى حتى الوسع به حسن ظن كوى او دسوء ظن نه به خان بچ ساتى. او په اندك خبره به په مسلمان جرحه نه كوى ډير لوى جرئت دى نجانا الله سبحانه منها.

عظیم جرم بلاتحقیقه دچاقول تسلیم کول دی

آیـه کریمـه دی الله پـاك ﷻ فرمـائی پـه خپـل کتـاب مقدس کښـی: ﴿إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ﴾

پښتو ترجمه: که چیرته تاسوته یوڅوك په یو غلط خبـر سـره راشـی نوتاسـو تحقیـق وکـړی دپـاره ددی چه دجهالـت په وجه به تاسو ته یوڅه ورسیږی بیا به تاسو پښیمانـه ئـی همدارنګه حدیث شریف دی چه پیغمبرﷺ فرمائی: (کفیٰ بالمرء کذباً ان یحدث بکل ماسمع).

پښتـو ترجمـه: دمـؤمن دپاره دغه دروغ کافی دی چه خلقونه اوری او هغه بیانوی.

یوه تبصره

اوس راشی ناظرینو علماء کرامو تاسو خپله فیصله وکـړی چه شـریعت یـار زمـا دا ارادی نـه خبری کـوی او د اوائی چه دپیرصاحب دمکمل لفظ نه دربوبیت معنیٰ مراد ده اوس به ددغه منکر قول د دوؤ حالو خالی نه وی یا به شریعت یاربی له دچا دتپوس نه دا الزام په مالګولی دی خو بهتان شو اویا به چاورته وئیلی وی نو بیاهم تر دغه مذکور آیت کریمه او تردغه مذکور حدیث شریف لاندی شو ځکه چه اول دغه کارت زما نه دی اودویم زما دمکمل

لفظ نه دغه دربوبيت معنیٰ مراده نه ده بهر تقدير شريعت يار دا جرئت کړيدی چه په مقابل دخدائیﷻ او دخدائیﷻ د رسولﷺ کښې خپله رائی مختاره کړیده اودخدائیﷻ قول اودخدائی درسولﷺ قول ئی ترک کړی دی العياذ بالله منها.

د فقراء طريقت سره حسد ډير بد دی

دا دخدائیﷻ شان دی چه په هره زمانه کښې دفقراء طريقت سره معاندين حاسدين موجود وی اوپه قسما قسم افتراګانو سره د دوی ارواح مجروح کوی او بهتانونه اوافتراګانی وربانديلګوی او الزامات وربانديلګوئی او حال دادی چه فقهاء عظامو منع فرمائيلی ده ددينه چه څوك په علماء او مشائخو باندی طعن لګوی اوسوء ظن پری کوی يعنی بدګمانی وربانديکوی.

دعلامه عبدالغنی نابلسی فيصله دسوء ظن په باره کښې

جملی دهغه فقهاء نه يو علامه عبدالغنی نابلسی رحمه الله دی چه استاذ دمفتی محمد آمين شامی دی هغه مبارك په خپل کتاب کښې چه حديقة الندیه ده فرمائی (و اتهم نفسك فی القصور عن معرفة الاولياء ولاتسیء الظنون فی احد منهم).

پښتو ترجمه

او خان ملامت وګنړه په قصور سره د ادراک دمعرفت د اولیاء الله نه او بدګمانی مه کوه په یو شخص د دوی باندی. (۱) د اوه د علامه عبدالغنی نابلسی فیصله ستاسو په حضور کښی.

دشیخ الاکبر محی الدین ابن عربی فیصله دسوظن په باره کښی

وقال الشیخ الاکبر محی الدین ابن عربی قدس سره فی کتابه المسمیٰ بشرح الوصیة الیوسفیة (واحذر ان یخطر لك خاطر ردی فی احد من خلق الله تعالی سواء کان ذالك الخلق ممن احسن او اساء فان النبی ﷺ یقول طوبیٰ لمن شغله عیبه عن عیوب الناس)۔

پښتو ترجمه

خان وساته ددینه چه خطره راځی تاته یوخطره بده دیوشخص په باره کښی دالله ﷻ دبنده ګانونه او برابره خبره ده چه وی هغه بنده ګان دهغه چاځنی چه څوک به وی اوڅوک بدوی ځکه چه پیغمبر ﷺ فرمائی چه

(۱) حدیقه الندیه شرح الطریقه المحمدیه۔

خوشحالي دي وي هغه چاله چه دي مشغول كړي عيب خپل له دعيوبو دخلقو ځني. د اوه دابن عربي فيصله ستاسو په حضور كښي.

دشيخ عبدالله تستري فيصله دسوء ظن په باره كښي

ونقل صاحب كتاب تحفة الاكياس في تحسين الظن بالناس ومن كلام سهل بن عبدالله التستري اسوء المعاصي سوء الظن وغالب الناس لايعيده ذنباً ولا يستغفر منه.

پښتو ترجمه

نقل كړيدي صاحب دكتاب تحفة الاكياس في تحسين الظن بالناس د كلام دسهل بن عبدالله التستري نه چه هغه فرمائي چه: بد دګناهونو چه دي هغه بدګمان دي په مسلمان باندي او اكثره خلق چه دي ديته لا ګناه هم نه وائي يعني ګناه ئي نه ګڼي او استغفار هم ترينه نه غواړي دا وو دشيخ عبدالله التستري فيصله ستاسو په حضور كښي وړاندي شوه.

شريعت يارته دتوبي دعوت

اوس شريعت يارته موټر وايو چه دغه مذكور عبارات مطالعه كړه اودا نصاف په نظر سرة وګوره ستاكوم اعتراضونه چه وو هغه بعض حل دي او بعض جوابونه

روستتی را روان دی هغه نور اعتراضونه به دی هم حل شی خو په شرط ددی که مقلد دیومذهب نی او باید چه دسوء ظن دنفس مسلمان نه خان بچ وساتی خصوصاً دسوء ظن دعلماء واو مشائخونه خکه چه دا ورثة الانبیاء دی او د ورثة الانبیاء په باره کښی علماء کرامو پوره تحقیق او شدت کړیدی چه سوء ظن په دوی باندی عظیمه خطره ده.

دعلامه فقیه افضل الدین فیصله دسوء ظن په باره کښی

وقال السید افضل الدین: ولوان انساناً احسن الظن بجمیع اولیاء الله تعالی الا واحداً منهم بغیر عذر مقبول فی الشرع لم ینفعه حسن الظن بجمیع اولیاء الله تعالی ولذالك لاتجد ولیاً حق له قدم الولایة الا وهو مصدق بجمیع اقرانه من الاولیاء لم یختلف فی ذالك اثنان کما انه لم یختلف فی الله تعالی نبیان فمن اذی الاولیاء بسوء ظنه فقد خرج من دائرة الشریعة.

پښتو ترجمه

که چیری یو انسان وی په ټولو اولیاء الله باندی عقیده نیکه ولری لیکن دیوولی نه بغیر د عذر شرعی

چه هغه مقبول فی الشرعه وی منکر شی نو نفعه به وه نه رسوی عندالله تعالی دغه حسن ظن دده په ټولو اولیاء الله باندی ددی وجه به ته یوولی هم ونه ګوری چه هغه یقیناً ولی وی لیکن دی به تصدیق لری په ټولو اولیاؤ د هر عصر باندی او اختلاف به نه وی کړی په دی کښی دوه کسانو لکه څرنګه چه اختلاف ندی کړی د الله رب العزت په ذات کښی دوه نبیانو او که چا ضرر ورسولو اولیاؤ الله ته په بدګمان سره نویه تحقیق دغه شخص خارج یعنی بهرشو د دائری د شریعت نه نجانا الله سبحانه منها دا وه فیصله د فقیه افضل الدین ستاسو په حضور کښی.

دشیخ ابی المواهب الشاذلی فیصله دسوء ظن په باره کښی

ومن کلام الشیخ ابی المواهب الشاذلی رحمه الله انه قال " من حرم احترام اصحاب الوقت فقد استوجب الطرد والمقت".

پښتو ترجمه

دکلام د شیخ ابی المواهب شاذلی نه دا خبره ده چه دی مبارک فرمائی که څوك محروم پاتی شو د کمالاتو او

فیوضاتو برکاتو د اولیاء دخپل وقت نه نو په تحقیق سره دي مستحق د غضب او دشرلو وګرځیدی او دخدائی درحمت نه لری وګرځیدی.

دفقراء طریقت نه انکار او عداوت کول

که چیری شریعت یار مقلد وی دیومذهب خو بیا د قدری ورله کفایت کوی او یاکه مقلد وی خو لیکن د اولیاء الله و سره عداوت لری او یا غیرمقلد وی نوغیر مقلد خو بیا ذاتاً د اولیاء الله سره عداوت او دشمنی لری ځکه افترګانی او بهتانونه وراندی لګوی اوس چه څوك د اولیاء الله سره عداوت او دشمنی کوی دهغی په حلقه تاسو ښه په غور سره دلائل واوری چه فقهاء د امت دهغوی په حق کښی څه فرمائی:

دشیخ محی الدین ابن عربی فیصله

په دعداوت د اولیاؤ کښی بیان

وذکر الشیخ الاکبر محی الدین بن عربی رحمه الله ان معاداة الاولیاء والعلماء العاملین کفر عند الجمهور وقال من عادي احداً من الاولیاء والعلماء العاملین والشرفاء فقد عادي ایمانه ·

پښتو ترجمه

شیخ محی الدین بن عربی فرمائی چه په تحقیق سره معانده او دشمنی کول د اولیا ؤ الله او دعلماء عاملینو سره یعنی چه په خپل علم سره عمل کونکی وی دا کفر دی په نزد دجمهورو علماء و باندی او بیا فرمائی که یوچا دشمنی وکړه دیوشخص داولیاء الله سره او یا دعلماء عاملینو او شرفاء نیکانو سره نو یقیناً چه دی شخص معانده او دشمنی دخپل ایمان سره وکړه. (یعنی خان ئې د ایمان نه خلاص کړو).

دعلامه شیخ سید علی الخواص فیصله دمعادات الاولیاء په باره کښې

وقال سیدی علی الخواص رحمه الله "من عادیٰ احداً من الاولیاء اوالعلماء خالفه ضرورةً وفی مخالفة الولی والعالم الضلال والهلاك وقد اطلنا الکلام فی هذا المقام فی کتابنا الوفیة بما یعنی بالمرام انتهی کلامه الشریف".

پښتو ترجمه

سیدی علی الخواص فرمائی که چا دشمنی وکړه دیوشخص د اولیاء الله سره او یا دعلما ؤ سره دهغه به

ضرور مخالف کولی شی او په مخالفت دولی اویادعالم کښې ګمراهي او هلاکت دی اودا خبره مونږ وړده کړیده په خپل کتاب کښې چه هغه مسمٰی په الوقیه سره دی.

دتوجه وړخبره

دا وه دفقهاء عبارتونه په بیان دمعاندنې د اولیاء الله کښې چه څوك دشمني د اولیاء الله سره کوی ستاسوپه حضور کښې مونږ وړاندی کړو اوتاسو ولیدو اوس به مخ را واړه وو په دی طرف چه څوك داولیاء ونه انکار کوی او وائی چه اولیاء الله په نن زمان کښې نشته یا د اولیاء الله دعلومو اوحالاتو نه انکار کوی چه دغه حالات د اولیاء الله نه دی نو اوس به مونږ ستاسو په حضور کښې حکم د انکار د اولیاالله ؒ بیان کړو. انشاء الله تعالیٰ.

دمنکرینو بیان دفقهاؤپه رنړا کښې

قال العلامة عبدالغني النابلسي قدس سره (والحاصل ان الانکار بالقلب اواللسان علی احد من اولیاء الله تعالی الذین هم العلماء العاملون سواء کانوا احیاء او کانو موتیٰ و کلهم احیاء عند من یعرفهم بحیٰوة الله تعالی لابانفسهم وکلهم موتیٰ من حیاتهم بانفسهم سواء عرفهم من ینکر علیهم اولم یعرفهم وانکرمالم یعرف من احوالهم الصحیحة وافعالهم المستقیمة عندالله تعالیٰ

فهو كفر صريح والمنكر كافر باجماع المسلمين علىٰ مقتضىٰ جميع مذاهب الاسلام.

پښتو ترجمه

علامه عبدالغني نابلسي رحمه الله فرماني: چه حاصل او خلاصه د كلام داده په تحقيق سره انكار كول د اولياء الله نه په قلب اويا په لسان سره يعني په زړه يا په ژبه سره ديوشخص نه داولياء الله هغه اولياء چه هغه علماء او په خپل علم سره عمل كونكي وي او برابره خبره ده هغه څوك منكرچه انكار ځني كوي خواه هغه اوليا مړه وي او كه ژوندي وي او ټول د اولياؤ نه ژوندي دي په نزد هغه چاچه هغه اولياء پيژني په هغه حيات سره چه هغه حيات الله رب العزت خپلو دوستانوته وركړيدي چه حيات روحي دي نه په اعتبار دنفسونو سره او ټول مړه دي په اعتبار دنفسونو سره او برابره خبره ده چه دغه منكر اولياء پيژني اوكه نه پيژني ځكه چه ده انكار كړيدي دهغه څه نه چه دده علم پرې نشته د احوال صحيحه ونه او د افعالو مستقيمه ونه دخدائي په نزد او يقيناً چه دغه انكار كفر صريح دى اودغه منكر كافر دى په اجماع دمسلمانانو په مقتضىٰ دټولو مذاهبو داسلام باندي.

سوال منکر د اولیاء ولی کافر دی او په څه دلیل کافر دی

علامه عبدالغنی نابلسی فرمائی: "لانه انکر دین الاسلام وشریعت المحمدیة وهولایعرف انه انکر ذالك لجهله وغباوته بل یظن انه انما انکر امراً باطلاً وفعلاً قبیحاً تصوره فی نفسه وحکم بانه فعل ذالك الولی او قوله فحکم بسببه علی ذالك الولی بانه لیس بولی وانه فاسق او کافر او ملحد او زندیق"

پښتو ترجمه

علامه عبدالغنی نابلسی قدس سره فرمائی چه منکر د اولیاء وځکه کافر دی (ځکه چه ده انکار اوکړو د دین اسلام نه اود شریعت محمدی نه او منکر ته دا پته نشته چه دی د دین اسلام نه منکر دی. دوجه دجهل او غباوت دده لیکن دمنکر دا ګمان دی چه ده انکار کړیدی دیو قبیح او باطل فعل نه او ددی تصور په وجه منکر دا حکم کړیدی او ددغه تصور په وجه سره منکر دولی نه انکارهم کړیدی او دا حکم نی کړیدی چه دا ولی نه دی بلکه دا فاسق یاکافر یا ملحد یا زندیق دی) العیاذ بالله منها نورددی وجه منکر د اولیاؤ ته کافر ویلی

شویدی بیا روسته دحدیقی ملاصاحب توضیح کړی او صفائی دولی کړی او حقیقة الامر ښکاره کړلو او داسی فرمائی په واضحه فیصله سره.

د حقیقت الامر ښکاره کول او واضحه فیصله کول

(والولی فی حقیقة امره من حیث مایعلمه الله تعالیٰ منه بریٔ من جمیع ما اعتقده فیه ذالك المنکر وعمله ذالك الذي انکره علیه وقوله الذي انکر علیه ایضاً لیس شیٔ منه باطلاً فی الشریعت ولاکفراً ولا الحاداً ولازندقةً بل ذالك الفعل طاعة وقربةٌ الی الله تعالی وذالك القول قول حق وصواب وهو محض ایمان وحقیقة معرفة وایقان ولٰکن سمّاه ذالك المنکر کفراً والحاداً وزندقةً لمحض جهله وعناده و عدم اعترافه باالقصور عن علوم الاولیاء ومعارف الصدیقین وعدم احساسه بطمس بصیرته وعمی قلبه عن ادراك مدارکهم والکشف عن حقائق اسرارهم ولمحات انوارهم).

پښتو ترجمه

"او حال دادی چه ولی دالله په حقیقت الامر کښی ددی حیثیته چه الله رب العزت پری علم لری دی بیزاره دی دټولو هغه اشیاء نه چه منکر پری څه عقیده لری او دهغه عمل او دهغه قول نه چه منکر تری انکار کړی

هیڅ یوشی نه باطل دی په شریعت کښی او نه کفر دی اونه الحاد دی او نه زندیقت دی لیکن دهغه ولی دغه فعل چه منکر تری انکار لری دا په حقیقت کښی اطاعت دی او قربة الله تعالیٰ ته دی اودغه قول حق قول دی او ایمان محض دی او حقیقة معرفة او یقین دی لیکن صرف منکر دغه دولی افعال مسمیٰ کړیدی په کفر او الحاد او زندیقت سره دمحض جهالت اوعناد دوجه نه او دعدم اقرار کولو په قصور خپل سره دعلومو د اولیاء ونه او دمعارف د صدیقینونه او دعدم احساس کولو په عدم د بصیرت او روند والی دزړه دمنکر د ادراك اومدارکو د دوی او دروند والی د زړه دمنکر د اسرارود اولیاؤ نه او دپرق کیدلو د انوارود اولیاء وسره" داټولی وجوهی د انکار دمنکرینو دی او بیا فرمائی:

دمنکرینو حالات په حقیقة الامر کښی

"فالمنکر یتقلب فی اودیة الکفر والضلال والالحاد والزندقة ومعتقد انه یتقلب فی اودیة الایمان والطاعة وارشاد الناس الی الاحتراز عن الخطاء والضلال والنصیحة والهدیٰ ولایشعر فکفره عندالله تعالیٰ سیظهرله ولامثاله ممن یوافقه علی الانکار المذکور یوم القیامة یوم یقوم الناس لرب العالمین فانه تعالیٰ

الحاكم العادل الذي يعلم المظلوم من الظالم ويعلم المحق من المبطل".

پښتو ترجمه

"پس اوس منكر خپله غورځيږي په كنده دكفر او ضلالت گمراهي الحاد، زنديقت كښي ليكن منكر په دې عقيده دي چه دې غورځيدلې دي په كنده د ايمان او طاعت او ارشاد كولو وخلقوته چه دې خلق دخطاء او گمراهي نه بچ كوي او نصيحت او هدايت ورته كوي او حال دادې چه منكر دخپل كفرنه خبر ندي او كفر دمنكر به ډير زر ښكاره شي وده لره دخدائي په حضور كښي او دده امثالو لره او هغه چالره چه هغه موافقه كوي په دې انكار دده سره په ورځ دقيامت كښي چه ټول خلق دخدايې په حضور ولاړوي ځكه چه الله رب العزت حاكم عادل ذات دې ظالم دمظلوم نه پيژني او محق دمبطل نه پيژني".

منكرته خپل كفر نه ښكاري

ولكن الأن في الدنيا لايحكم المنكر هو بنفسه على نفسه بالكفر ولا امثاله يحكمون عليه بذالك لاصرار المنكرين كلهم على عقيدة واحدة؛ هي الانكار فالحكم عليهم بالاسلام مبني على مجرد زعمهم ذالك كما ان الحكم عليهم بالكفر مبني على اعتقاد اهل الاسلام

العارفين بكلام الاولياء المطلعين على احوالهم الصحيحة المستقيمة"

پښتو ترجمه

ليکن اوس په دنيا کښې منکر حکم په خپله په خپل خان باندې نه کوي دکفر اونه دده امثال دکفرحکم په ده کوي ځکه چه منکرين ټوله په يوه عقيده دي چه هغه انکار دی پس حکم کول په دوی باندې په اسلام سره دا مبنی دی په مجرد خيال او گمان د دوی سره لکه څرنگه چه حکم دکفر په منکر باندې دا مبنی دی په اعتقاد د اهل اسلام او هغه علماء عارفينو باندې چه هغوی په کلام د اولياء الله سره خبر دي او د اولياء الله احوال صحيحه مستقيمه ورته معلوم دي.

دمنکرينو عذر په ورځ د قيامت هيڅ قبول ندی

"ولايعذرون المنكرين باالجهل لان لهم مندوحة عن الانكار بايكال الامر الى الله تعالى والتسليم فيمالا يعرفه والاعتراف بان الله تعالى يعلم من احوال الناس مالايعلم هو والجهل فى الشريعة ليس بعذر فى مثل هذا اذهو مثل جهل اليهود والنصارىٰ والمجوس وعباد الاصنام بماجاء به محمد ﷺ من الحق والدين الصحيح فانه ليس بعذر عنداهل التصديق بذالك كما انه ليس بعذر عند الله تعالى ايضاً".

پښتو ترجمه

سوال: منکرين خکه انکار کوي د اولياء الله نه دوجه د عدم علم دهغوي په ولايت باندي او دا عدم علم دمنکرينو دپاره يوعذر کيدی شئ نو منکرين معذورين دي.

جواب: په مذکور عبارت کښي ددي سوال جواب مکمل په توضيح سره بيان شو دهغه عبارت ترجمه به تاسوته اوس ورانـدي کړو: "منکرين اوس معذور نه بلل کيږي په عدم علم يعني په جهل سره چه دوي د اولياء والله دعلومو اودحال نه بي خبره دي خکه چه د دوي دپاره نيك صفت هم شته د انکارنه په سپارلو د امرالله رب العزت ته اوخان تسليم کول والله ﷻ ته په هغه څه کښي چه دوي پري علم نه لري او اقرار کول دي په دي سره چه الله رب العزت علم لري په احوال دټول مخلوق هغه علم چه منکرين پرې اګاه هم ندي.

او جهل په شريعت کښي عذر ندي په مثل ددي انکار سره خکه چه دا جهل په مثل دجهل ديهود ونصارىٰ و مجوسيانو او دبوتانو عبادت والا دي چه دوي په هغه څه سره خان جاهلان ګڼري چه په هغي سره پيغمبر ﷺ اتيان کړيدي چه هغه حق دين دي او صحيح دين دي پس ددي حق دين نه او دصحيح دين نه انکار کول ديهود ونصارىٰ وغيره دپاره هيڅ عذرنه بلل کيږي په نزد داهل التصديق والا يعني

چه په دی حق محمدی دین سره تصدیق لری لکه څرنګه چه ددی حق دین محمدی نه انکار اوجهل الله ته هم منظور ندی اودا د دوی عذر الله ته هم قبول ندی.

منکرین خپل ځان معذور نه ګڼړی

"وان ما کان عذراً عنداهل هذه الملل الباطلة بل فی زعمهم انما انکروه هوالباطل وما انکرو به هوالحق".

پښتو ترجمه

لیکن د دوی دپاره داهم عذرنه دی او نهٔ دوی عذر ګڼړی بلکه دمنکرینو خیال دادی چه ما انکار کړیدی دهغه کارنه چه هغه امر باطل دی دا زه چه دځه نه انکار کوم دا حق دی.

توضیح

دا ودمنکرینٌ په حقله دفقهاء کرامو مسائل اونظر اوس چه څوك دمذکور موصوفو اولیاء الله نه انکار اوکړی دا څو فقهاؤ واضحه کړی ده چه کفر دی نوکا فر سره به سری په دنیا څه معامله کوی او دشریعت دنګاه نه څه کول ورسره پکاردی.

دمنکرینو داولیاء الله دنیوی حکم په شریعت کښی "وحیث کان حکم المنکر علی اولیاء الله تعالی هوالکفر فیترتب علی ذالك مایترتب علی الکفر من

احكام الشريعت كفسخ النكاح والاستتابة واحراق الدم ان اصرو وكذالك بقية احكام المرتد".

پښتو ترجمه

٢- عن ابن عباس رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ فقيه واحد اشد على الشيطان من الف عابد. (٨)

(١) سورة القلم، ٣٣.
(٢) سورة الحاقة، ٤٠.
(٣) سورة التكوير، ١٩.
(٤) سورة المزمل، ٢٠.
(٥) سورة النباء، ١-٢ .
(٦) سورة المطففين، ٤-٥ .
(٧) دليل الفالحين، متفق عليه.
(٨) مشكوة، كتاب العلم رواه الترمذى و ابن ماجه.

۳- عن سفیانؓ ان عمر بن الخطاب قال لکعب من ارباب العلم قال الذین یعملون بما یعلمون قال فما اخرج العلم من قلوب العلماء قال الطمع. (۱)

۴- عن ابی ہریرةؓ قال رسول اللہ ﷺ اذا صلی احدکم للناس فلیخفف فان فیہم السقیم والضعیف والکبیر و اذا صلی احدکم لنفسہ فلیطول ماشآء. (۲)

۵- عن ابی الدرداءؓ قال ان من اشرالناس عنداللہ منزلة یوم القیامة عالم لاینتفع بعلمہ. (۳)

۶- عن ابی ہریرةؓ عن النبی ﷺ قال لایزال قلب الکبیر شابا فی اثنین فی حب الدنیا وطول الامل. (۴)

۷- عن جریر بن عبداللہؓ قال رسول اللہ ﷺ لایرحم اللہ من لایرحم الناس. (۵)

۸- عن زیاد بن حدیرؓ قال قال لی عمرؓ ہل تعرف مایہدم الاسلام قال قلت لا قال یہدمہ زلة العلم وجدال

(۱) رواہ الدارمی.
(۲) مشکوٰة، کتاب الصلوٰة، متفق علیہ.
(۳) رواہ الدارمی، کتاب العلم.
(۴) مشکوٰة باب الامل والحرص، متفق علیہ.
(۵) مشکوٰة، باب الشفقة والرحمة علی الخلق، متفق علیہ.

المنافق بالكتاب وحكم الائمة المضلين. (١)

٩- عن ابى موسى ﷺ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ان من اجلال الله اكرام ذى الشيبة المسلم وحامل القرآن غير الغالى فيه و لا الجا فى عنه واكرام السلطان المقسط. (٢)

١٠- عن حارثة بن وهب قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الا اخبركم باهل الجنة كل ضعيف متضعف لو اقسم على الله لا بره الا اخبركم باهل النار كل عتل جواظ مستكبر. وفى رواية المسلم كل جواظ زنيم متكبر. (٣)

١١- عن ابى هريرة ﷺ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ثلاثة لايكلمهم الله يوم القيامة ولايزكيهم وفى رواية ولاينظر اليهم ولهم عذاب اليم شيخ زان وملك كذاب وعائل مستكبر. (٤)

١٢- عن سلمة بن الاكوع قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لايزال الرجل يذهب بنفسه حتى يكتب فى الجبارين فيصيبه ما اصابهم.(٥)

١٣- عن عمر ﷺ وهو على المنبر يا ايها الناس تواضعوا

---

(١) رواه الدارمى فى كتاب العلم.
(٢) رواه ابوداود والبيهقى فى شعب الايمان.
(٣) متفق عليه، باب الغضب والكبر.
(٤)
(٥) رواه الترمذى.

فانی سمعت رسول اللہ ﷺ یقول من تواضع للہ رفعہ اللہ فھو فی نفسہ صغیر وفی اعین الناس عظیم ومن تکبر وضعہ اللہ وھو فی اعین الناس صغیر وفی نفسہ کبیر حتی لھو اھون علیھم من کلب او خنزیر۔ (١)

١٤- عن عبداللہ بن عمرو رضی اللہ عنہ قال قال رسول اللہ ﷺ الراحمون یرحمھم الرحمٰن ا رحموا من فی الارض یرحمکم من فی السمآء۔ (٢)

١٥- عن سعد رضی اللہ عنہ قال رسول اللہ ﷺ ان اللہ یحب العبد التقی الغنی الخفی۔ (٣)

١٦- عن ابی ھریرۃ رضی اللہ عنہ قال رسول اللہ ﷺ المومن القوی خیر واحب الی اللہ من المومن الضعیف وفی کل خیر احرص علی ماینفعک واستعن باللہ ولاتعجز وان اصابک شی فلا تقل لو انی فعلت کان کذا وکذا ولکن قل قدر اللہ وماشاء فعل فان لو تفتح عمل الشیطان۔ (٤)

١٧- عن النعمان بن بشیر رضی اللہ عنھما قال رسول اللہ ﷺ

---

(١) رواہ البیھقی فی شعب الایمان۔

(٢) ورواہ ابوداود و الترمذی۔

(٣) رواہ مسلم فی باب استحباب المال والعمر للطاعة۔

(٤) رواہ مسلم فی باب التوکل والصبر۔

المومن كرجل واحد ان اشتكى عينه اشتكى كله وان اشتكى راسه اشتكى كله. (١)

اوس دى علماء كرام فيصله وكړى

اوس دى علماء كرام فيصله وكړى چه وهابيان او خوارج او پنجپيريان به اوس الله ﷻ ته څه نسبت كوى چه گوندى الله ﷻ دخان سره شريك ونيوه او خپل صفات ئى بنده لره ثابت كړه نعوذ باالله منها نه كلا وحاشا داسى نده لكه دوى چه وائى بلكه بنده هم په دغه اسماء او صفات مشتركه وموصوف كيدى شى او متخلق په اخلاق والله باندى كيږى دا صرف دمنكرينو كم علمى ده او بد عقيده گى ده چه په هرچا باندى بدگمان كوى او اعتراضونه كوى لكه ددى وضاحت تاسو ته عنقريب تيرشو چه په اختلاف د ارادى او معنى سره اطلاقات كيږى همدغه رنگه بنده گان يو تربله فضيلت هم لرى په بندگى كښى او حال دادى چه ديوعبد اطلاق پرى كيږى خو ليكن په مراتبو كښى فرق شته لكه نبى ﷺ بنده د الله ﷻ دى او نور انبياء عليهم السلام هم د الله ﷻ بندگان دى خو په اعتبار د مرتبه سره يوتربله فضيلت

(١) رواه مسلم فى باب الشفقة والرحمة على الخلق.

لری لکه چه الله تعالی فرمائی.

فضیلت د بعضو انبیاء علیه السلام په بعضو باندی

"تلك الرسل فضلنا بعضهم علی بعض" الایه.

پښتو ترجمه:

دغه رسولان چه دی فضیلت مونږ ورکړیدی بعض ته په بعض نورو باندی.

مقام التشریح

اوس چونکه اولیاء کرام د نبی ﷺ حقیقی وارثین دی لکه څرنګه چه دانبیاء علیهم السلام په حق کښی دا ثابته شوه چه یویه بل فضیلت لری نو دا اولیاء کرامو ته هم ثابت دی په طریقه د وراثت او نیابت سره او هم دارنګه په عامو مسلمانانو کښی مراتب شته لکه چه تفسیر روح البیان کښی علامه اسماعیل حقی برو سوی فرمائی: چه بنی آدمو کښی (۹۹) حصی کافر دی یو حصه مسلمانان دی بیا په مسلمانانو کښی (۹۹) حصی غیر مطیعین دی او یوه حصه مطیعین دی بیا په مطیعینو کښی (۹۹) حصی مطیعین دی یوه حصه زاهدین دی بیا په زاهدینو کښی (۹۹) حصی زاهدین

دی یوه حصه عاشقین دی بیا په عاشقینو کښی (۹۹) حصی عاشقین دی یوه حصه عارفین دی. (۱)

بیان د عارف

مثنوی:

معرفت فانی شدن دروی بود | هر که فانی نیست عارف کی بود
کار پاکان را قیاس از خود مگیر | گرچه باشد در نوشتن شیر وشیر

همدارنگه ددی په مضمون حدیث شریف هم راغلی، دی چه په مشکواة شریف کتاب العلم کښی (ص ۳۲) نقل دی "الناس معادن کمعادن الذهب والفضة" ددینه ثابته شوه چه فرق موجود دی او فضیلت یوبه بل باندی ثابت دی. اگر فرق مراتب نکنی زندیقی.

آمدم براصل مطلب به هوش متوجه باش

اوس اصل مطلب ته راځم چه شریعت یار اعتراضونه کړیدی اوځان نی هلاك کړیدی په هغه کلماتو سره چه یو مرید خپل پیرته یو کارت لیکلی وؤ او هغه پیر په خپله ځان ته په خپل کارت او آدرس کښی داسی لیکلی دی:

(۱) تفسیر روح المعانی.

فقیر سیف الرحمن آخندزاده مدرسه دار العلـــوم الحنیفـــة الســـیفیة منډیکس کهجوری تحصیل باړه خیبر ایجنسی ضلع پشاور.

اولاًخو نومړی شریعت یار په دی کښی کاذب دی چه مونږه ما قبل هم لیکلی دی چه څوک ځانته مرشد من نه وائی غیر به ورته داسی وائی اوس عاقلان خپله پوهیږی.

دحاجی عبدالغفور نه پوښتنه کول او دهغه خپل بیان

مادحاجی عبدالغفور نه تپوس وکړو چه دمرشد من نه ستاځه مراد دی حاجی عبدالغفور ووئیل چه ماته دی معنوی لاربښودلی ده ځکه چه زما غافل اومړ زړه ستا په توجه سره ذاکر شو او حیات معنوی پکښی پیدا شو او همدارنګه په ماکښی ډیر امراض باطنی او علل معنوی وه لکه غفلت، عجب، ریا ، شرک، خفی، حرص، طول د امل، انانیت، تکبر، حب دجاه، حب ددنیا ، پستی، دنائت وغیره وغیره چه (۹۹) باطنی امراض او معنوی علل دی دا ټول ستا په مریدی کښی زمانه لری شو او ددی ټولونه اوس شکر دی خلاص شوم دا نیکه لاره چه دسلوك ده چه حقیقت د ایمان اوحقیقت د شریعت ماته دی

تا تعلیم کړه او په فنا او بقا او سیر الی الله وغیره مراتبو
د سلوك د اولیاء الله چه صوفیهٔ کرام دی مشرف شوم
اوس چه بل چاته توجه وکړم قلب ئی ذاکر کرځی.

لطائف خمسه د عالم امر

زه د قلب او روح او سر او خفی او اخفی او نفسی
او قالبی لطائفونه څه خبروم زه خوتا خبرکړم. خکه زما
مرشد ئی همدارنګه د نورو علومو او معارفو او دځلور
وواړو طرق دسبقونو او مقاماتو نه دی هم خبر کړم او پری
عالم دی کړم نوراته معلوم شو چه کامل ئی په ځلور واړه
طریقو کښی او ماته دی هم تعلیم وکړو او زه هم پری
مشرف شوم او دهغه مذکوره نقصاناتونه ستا په توجه او
تصرف روحی سره خلاص شوم په یقین سره پوه شوم چه
مکمل هم ئی چه داسی کمالات چه زه پری کمال ته ورسیدم
ستا په صحبت او توجه ماته حاصل شو.

د اکمل العصر بیان

او اکمل العصر خکه ئی چه په نن عصر کښی په نامه
پیران ډیردی اوزه ډیروته لاړم او صحبتونه می ورسره
وکړه او ما دغه تاثیر او فیض دبل چاسره محسوس
نکړو بلکه حیات قلبی به هم ورسره نه وو نوبل چاته به

تری څه فیض او فائده رسیدلی وی او په دی فن دسلوك کښی به ناقص وه او د ناقص نه لری گرځیده لازم دی

(بیت عجیبه)

باهرکه نشستی ونشد جمع دلت	وزتو نرمید صحبت آب وگلت
زنهار زصحبتش گریزان میباش	ورنه نکند روح عزیزان بحلت

بیان د اکمل او مکمل

اگرچه بعضی پیران خو به کامل هم وو او وی به چه دبل چا یعنی دمرید تربیهٔ روحی ونکړی شی نو دا کسان اکمل او مکمل نه دی اوحال دادی چه تازما او د ډیرو مریدانو چه پکښی (۱۷۰۹) کسان په خلافت مشرف شوی دی او زه په ټولو کښی ادنی یمه تربیه دی وکړه دا وړ د حاجی عبدالغفور بیان چه ده خپله وکړو ستاسو په حضور کښی ولیکلی شو تاسو مطالعه کړو.

اوسنی اسناد د خلفاء زمونږ

اوس په نن ۲۰۰۴ زمانه کښی زمونږ دخلفاء اسناد (۲۸۰۰) ته رسیدلی دی او دا د اما بنعمة ربك فحدث په مضمون سره اظهار د نعمت کوم او کوم اسناد چه حاجی عبدالغفور بنودلی دی هغه ددی کتاب اولنی طبع وه اوس دا دونمه طبع ده نور هغه کتاب دی صرف

زیـــادت د اســـنادو مونـــږ دخلفـــاء و وشـــو او زیـــادت دعنواناتو وشو دپاره د سهولت دناظرینو.

د کامل لفظ په اړه څه نور وضاحت

پـه تفسـیر کبیـر کښـی لیکلـی دی: "وان عبـادالله الکـاملین اقـرب الـی الله تعـالی مـن عبـاده الناقصـین وعبـاد الله الـذین کلمهـم الله وکلمـوه وارسـلهم لتکمیـل عباده فکمّلوا و اقـرب الـی الله مـن الـذین لـم یکلمهـم ولـم یرسلهم الله ولم یکملوا" (۱).

پښتو ترجمه

تفسیر کبیر لیکلی دی چه بنده ګان د الله تعالی چه کـاملین وی هغـه نـژدی دی خـدانی ﷻ تـه دبنـده ګـانو ناقصـینونه او بنده ګان د الله تعـالی هغـه کسـان چـه الله تعالی د دوی سره خبری کړیدی او دوی د الله تعـالی سـره خبری کړیدی او الله تعالی دوی مرسل ګرځولی دی دپاره د تکمیـل د نـور عبـاد نـو دوی تکمیـل کـوی او الله تعـالی تـه اقـرب دی دهغـه کسـانونه چـه هغـه متکلمـین او مرسـل ندی شوی او دتکمیل حدته هم ندی رسیدلی.

---

(۱) تفسیر کبیر، جزء السابع والعشرون، ص۲٦٤.

دحاجي عبدالغفور بيان دقيوم لفظ متعلق

او قيوم راته خکه معلوم شوی چه زه په شریعت باندی سم قایم نه وم دتانه چه مرید شوم پس دهغه په شریعت باندی قایم شوم او په ذکر قایم شوم او په حضور مع الله باندی قایم شوم او په اوامر و دالله تعالی باندی قایم شوم او دنواهیونه په اجتناب باندی قایم شوم او په حب فی الله باندی قایم شوم او په بغض فی الله باندی قایم شوم او په جهاد اکبر چه دنفس سره دی قایم شوم او په عقیده د اهلسنت والجماعت باندی قایم شوم او په عقیده د اولیاء الله باندی قایم شوم او حال دادی که تاسره مرید شوی نه وی نوزه به هم یا پنجپیري یا وهابی یا شیعه یا دنورو فرق ضاله ووخنی شوی وی نودا راته ثابته شوه چه لکه خرنگه چه:

حضرت امام ربانی صاحب مجدد الف ثانی په مکتوبات کښی فرمائیلی دی

چه په مقاماتو او مراتبو د ولایت او دصوفیه وو کښی یومقام دی چه هغه ته مقام د قیومیت ونیلی شی په هغه مقام باندی زما پیر حضرت آخندزاده سیف الرحمن قدس سره مشرف شوی دی او ددی مقام چه

مقام د قیومیت دی په خپله امام ربانی صاحب په مکتوب نمبر (۷۴) حصه ۷، ص ۷۵. کښې بیان کړیدی او مصنف دعمدة المقامات محمد الملقب په فضل الله سرهندی په حق دخپل پیر کښې په (ص ۴ -۵ -۶) داسی لیکلی دی:

د عمدة المقامات عبارت

چونکه از صحبت کثیر البرکت حضرت قیوم جهان قطب دائره زمین وزمان.

بیت:

خلعت قطبیت وغوثیت و قیومی	از کمال ایزد بنمود انعامش
منکر او شود از درگهٔ یزدان محروم	همچو ابلیس که شد از سبب همنامش

بیا په (ص۵) لیکلی چه حضرت مرشد قیوم جهان قدس سره الخ. بیا وائی و "آنچه از احوال واقوال این اکابر بند رقم و قید قلم آیند همه را باذعان و قبول پیش آیند وبه رد وانکار وقت خود را ضائع نه نمایند وهر آنچه از دقت لفظ وعلو معنیٰ مستبعد نمایند علم آنرا مفوض بر قائل آن دارند چه این اکابر در اظهار این معاملات درمیان نه اند".

د حضرت امام معصوم او صبغت الله بيان

او په صفحه (ص ۲۵۰) کښې ليکي: "در ذکر احوال حضرت عروة الوثقى محبوب سبحان قيوم عالميان حضرت امام معصوم ؒ" او بيا په (ص ۳۴۲) ليکي: "در ذکر قطب دوران قيوم زمان حضرت شيخ محمد صبغة الله الخ" همدا رنګه نسبت دقيوم چه مشائخ کرام ته شويدي هغه متعدد د صفحات دي لکه (ص ۳۷۶ تر ۳۷۷ او ۳۸۵ تر ۳۸۶ و۳۸۷ او ۳۵۱ او ۳۹۶ تر ۳۹۷ او ۴۷۲ او ۴۸۷ تر ۴۸۹)، او بيا واني په (ص ۳۵۱) "در ذکر فضائل وخصوصيات وتصرف وخرق عادات جناب حضرت قيوم زمان شيخ محمد صادق" اوبيا وروسته فرماني په (ص ۳۹۶) "در احوال حضرت قطب الاقطاب غوث الاغواث سرمست باده حضرت شيخ حاجي غلام محمد معصوم صاحب" او بيا وروسته په (ص ۳۹۶)، فرماني په طريقه د ابياتو سره نقل دي:

اى مست شراب قيوم	شد برتو مزين اسم معصوم
اى بلبل آشيان جبروت	منظور تو بوستان لاهوت
اى آهوى مرغذار قدسى	صحراى تو صحن عرش وكرسى

او په (ص ۴۰۲)، کښې فرماني داهم په په ابيات کښې

شـــه دیـــن امـــام قیـــوم | قطب دو جهان امام معصوم
آن زنگ خطر چو بود در دل | شـد رفـع زفضـل پیر کامل

د حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی

متعلق دغوث بیان

بیا په صفحه ۴۳۱ کښی لیکی حضرت شیخ الجن والانـس جناب حضـرت محبـوب سبحان غـوث صـمدانی سـید عبدالقادر جیلانـی اولـږو روسـته بیا فرمانی فرزند ثالث قطب الاقطاب نهنګ دریائی غـوث الزمان حضـرت میا عبدالرحمن او په (ص ۴۴۵) فرمانی "در احوال مجدد مائة ثالث عشر غوث الجن والبشر قطب زمان قیوم جهان زبده اهل الله حضـرت حاجی محمد صفی الله" همدارنګه بیا په (ص ۴۵۹) فرمانی قیوم جهان همـده تـه نی ونیلی دی بیا په (ص ۴۶۵) کښـی فرمانی قیـوم جهـان محبوب الرحمان بیـا (ص ۴۸۹) کښـی لفـظ د قیـوم هـم مـستعمل کـړیدی او غوث الاغواث قطب الاکمـل قیـوم البشـر دا ټـول نسبتونه شویدی وینده ته.

دمشائخ کرامو په حق کښې دا الفاظ مستعمليږي

هو قطب الاقطاب العلی	فاسترجعوا اهل البلا
محی لدین قد علا	قیوم وقت معتلا
هو فرد عصر مختبر	هوغوث اغواث البشر
هو قطب ارشاد الامم	قطب المدار المحتشم
هادی الطریق المعتصم	فاسترجعوا اهل البلا

بیان دمنصب قیومیت وغوثیت

په عمدة المقامات (ص ۴۵۵) کښې لیکي: "خدمت ایشان راجمع گردانیدند در مناصب قرب وکمال ومنصب قیومیت را باقطبیت و فردیت را باغوثیت وخلت را باندیمیت وغیرها که زبان قلم از تکتب آن ها عاجز است به محض عنایت بی غایت بایشان مرحمت فرمودند غرض دادی چه تول کتاب دعمدة المقامات ددی نسبتونو نه ډك دی چه غوث یا قطب یا قیوم چه دتیولو پانو لیکل سبب دطوالت جوړیږي او سبب داوږدوالی گرځي مونږ مختصراً صرف بعض هغه الفاظ یا صفحات نقل کړو او دلته ددغه پوځو ځایونو پښتو

ترجمه مونږ ونکړه ځکه مقصود دلته دغه معهود الفاظ دي هغه علماء خپله په ترجمه پوهیږي او کم چه عام خلق دي دهغوی دپاره صرف دا الفاظ هم کافي او شافي دي.

دحضرات القدس حواله دقیوم عالم په اړه

په حضرات القدس کښې چه تصنیف دشیخ بدر الدین السرهندی دی په (ص ۲۶۹ تر ۲۷۰) کښې نسبت د مقام دقیومیت په څوکسانو باندي شویدي همدارنګه په (ص ۲۸۸) کښې لیکي: "پس عارف بحکم خلافت قیوم عالم مي گردد" الخ. لیس هذا اول قار ورة کسرت في الاسلام.

پښتو ترجمه

نده دا اوله شیشه چه ماته شوی وی په اسلام کښې.

د مجدد الف ثاني رحمه الله قول د قیومیت په اړه

لکه حضرت مجدد صاحب قدس سره په مکتوبات کښې په مکتوب (۷۴) حصه ۷ (ص ۷۵) کښې فرمائي: "بخواجه هاشم صدور یافته در تاویل این ایة کریمه (انا عرضنا الامانة) الایه. و در خلافت انسان کامل که معامله او بجائی میرسد که اورا قیوم جمیع اشیاء می سازند و آن ظالم لنفسه است".

پښتو ترجمه

دا مکتوب صادر شویدی وخواجه هاشم صاحب ته په تاویل ددی آیة کریمه چه (انا عرضنا الامانة) او په حق دخلافت د انسان کامل چه معامله دهغه اسی مقام ته رسیږی چه هغه په دی وقت کښی قیوم د ټولو اشیاؤ جوړ شی او هغه ته ظالم لنفسه ونیل کیږی. قال الله تعالٰی فی کتابه المجید: (ثم أورثنا الکتاب الذین اصطفینا من عبادنا فمنهم ظالم لنفسه ومنهم مقتصد ومنهم سابق بالخیرات باذن الله).

پښتو ترجمه

بیا میراث پاتی کړو مونږ دا کتاب هغه کسانو ته چه غوره کړی دی مونږه له بندګانو خپلونه پس بعض له دوی نه ظالم دی په خپل ځان او بعضی له دوی نه میانه رو او بعض له دوی نه رومبی کیدونکی دی نیکیو ته باذن الله.

و ایضاً قال الله تبارک وتعالی فی القرآن المجید

(انا عرضنا الامانة علی السموات والارض والجبال فابین ان یحملنها و اشفقن منها و حملها الانسان انه کان ظلوماً جهولاً)

پښتو ترجمه

بیشکه چه مونږ وړاندی کړو امانت په اسمانونو باندی او په زمکه باندی او په غرونو باندی پس منع وکړه دوی له دی نه چه بار کړی دوی دا امانت او ویریدل له دغه بارنه او بیا بار کړو هغه امانت انسان بیشکه چه دی وو ظلم کونکی په خپل ځان او بی خبره.

تشریح دحضرت مجدد الف ثانی قدس سره

ومحسوس می گردد که اگر این بار امانت فرضاً به آسمان و زمین وکوه ها حواله نمایند پاره پاره گردند وهیچ اثری باقی نماند و آن بزعم حقیر قیومیت جمیع اشیاء است برسبیل نیابت که مخصوص به کمل افراد انسان است یعنی معاملهٔ انسان کامل تابجائی میرسد که اورا قیوم جمیع اشیاء بحکم خلافت می سازد وهمه را افادهٔ وجود وبقا وسائر کمالات ظاهری وباطنی بتوسط او میرسانند مکتوب (۷۴ تر ۷۶ خصه ۷).

پښتو ترجمه

محسوسه گرزی که چیری دغه بار د امانت فرضاً په آسمان او زمکه او غرونو ته وسپارل شی توټه توټه به شی او هیڅ علامه به هم دهغوی پاتی نشی او هغه په

کمان دحقیر قیومیت د تولو اشیا ؤ دی په طریقی
دنیابت سره چه هغه خاص پهٔکاملینو افرادو دانسان پوری
دیٔ یعنی معامله دکامل انسان تر دی حده رسیږی چه هغه
قیوم د تولو اشیا ؤ په حکم د خلافت سره گرځوی او
تولوته فائده رسول د وجود او دبقا او تول کمالات
ظاهری او باطنی په ذریعی دده سره رسیږی.
او بل ځائی فرمائی په مکتوب (۹۵ او ۶۹) دفتر
سوم کښی "این کرم درحق ما امروزه نیست مشت خاک
مارا از خاک برداشته خلیفهٔ خود ساخت وبه نیابت خود
قیوم اشیا گردانیده".

پښتو ترجمه

دغه عزت په حق ځماکی نن نه دی (یعنی دنن
ورځی ندی) موټی دخاوری ځمانی له خاوری پورته کړ او
خپل خلیفه نی جوړکړ او دځان نه نی په نیابت قیوم
دټولو څیزونو وګرزاوه.

د شهباز لامکان متعلق بیان

او بیا مونږ دحاجی عبدالغفور نه تپوس وکړو چه
ستا د شهباز لامکان نه څه مراد دی ده وونیل چه هرکله
زه ستامرید شوم او تاماته ذکر قلبی راکړو زما په زړه
کښی داسی ګرمی را پیدا شوه لکه چه څرنګه مولانا

روم صاحب فرمائي: په ښکلو اشعارو سره.

معدن گرمی است اندر لامکان

هفت دوزخ از شرارش یك دخان

نو زه یقیناً اوس پوه شوم چه دا گرمي او حرارت تاثیر د انوارو فیوضاتو د صفاتو فعلیه ؤ دی چه اصل د هغه فوق العرش لامکان دی او دا رنګه مي سیر روحي ولیدو چه اصل د قلب ته وشو چه اصل د قلب ایضاً فوق العرش دی او ستا روح او لطیفي مي هم ولیدلې چه زما روح او لطائفوته عروج ورکاوه او بیا هغه بیت د مثنوی مولانا روم صاحب رایاد شو چه فرمائي:

تو مکانی اصل تو درلامکان

این دکان بربند وبکشا آن دکان

مکتوب اول دمکتوبات شریف جلد اول

او لکه حضرت امام رباني مجدد الف ثاني په مکتوب اول (۴) کښي فرمائي: "مرتبهٔ اول که عروج واقع شد بعد از طی مسافت چون برفوق محدد رسید؛ یعني فوق دعرش نه؛ ومرتبهٔ دونم باز عروج واقع شد په همدی مکتوب کښي بیا واتي وفوق محدد آن مقدار عروج واقع شد که از مرکز خاك تامحدد یا اندك کمتر از ین؛

يالكه عبدالرحمن بابا چه فرمائي

چه په يو قدم تر عرشه پورې درومي
ماليدلي دي رفتار د درويشانو

بل خاني فرمائي:

څوك په عقل ختې نشي و آسمان ته
عاشقان قدم بالا په عرش اوچت بېدي

مولوي عميم د بهسود فرمائي:

په يو قدم دعرش خني تربېږي
ماليدلي تيز رفتار د درويشانو

اوس دلته مراد ددې قدم نه قدم روحي دي نه جسمي
لكه مولانا روم صاحب چه فرمائي مثنوي:

جسم شان برخاک جان درلامکان	لامکان فوق وهم سالکان
سائران درآسمان هائي دیگر	غیر این هفت آسمان مشتهر

عروج د لطائف فوق العرش

نوكله چه ستا روح ما پدې مقاماتو كښې چه اصل دقلب دى او اصل دروح دى اواصل د سردي او اصل دخفي دي او اصل دا خفي دى په نظر دبصيرت سره مشاهده كړو نوزه بوه شوم چه دهغه فيوضاتو او صفات چه دهغې تعلق دلامكان

سره دی تاثیرات ستا په سینه کښې موجود دی نوځکه می شهباز لامکان درته وئیلی دی.

د ابن جریر تفسیر حواله

تفسیر ابن جریر لیکی: "ومحل المکاشفات هو القلب. (۱) او قاضی ثناء الله صاحب په ارشاد الطالبین کښې لیکی: چه غوث الثقلین می فرماید: "خرقت جمیع الحجب حتیٰ وصلت الی مقام لقد کان جدی فادنیٰ لی:

غیر الله ته غوث وئیل

نو ده هم غوث غیرالله ته وویل او هم نی عروجات روح دنبی ﷺ ته چه په علیین کښې یافوق ددینه دی ثابت کړو همدارنګه په حدیث کښې راځی چه نبی ﷺ حضرت بلال ؓ ته وفرمایل چه زه هرکله جنّت ته داخل شوی یم ستا دنعلین ځپاړما رومبی په جنّت کښې اوریدلی دی او حال داچه جسد دحضرت بلال ؓ په ځمکه کښې وه دا هم عروج روحی ؤ.

د منکر اعتراض

شریعت یار نامی لیکلی دی چه پیر صاحب دخپل خان صفت کړی دی او تزکیه دنفس نی ویلی ده دا هم لکه دده

(۱) تفسیر ابن جریر، ج۲۱، ص ۱۳۵.

دنورو خبرو په شان يوه افترا ده جواب دادی چه ما پخپله دا عبارات او الفاظ خان ته نـدی استعمال کـړی، حـاجی عبدالغفور نامبرده داهم ليکلی دی او که بالفرض والتقدير پخپله څوك په طور داظهار د نعمت دا خبری وکړی هم ناجائزه نه دی ځکه مؤلف تفسير مظهری قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله په ارشاد الطالبين کښی داسی ليکی:

اولياء الله لره دا جائز ده چه اظهار د نعمت وکړی

مسئله اوليا را جائز است که اظهار نمايند انعام حق را که در حق آنها شده ومرتبه ودرجه قرب الهی که بفضل خود حق تعالی به آنها اعطا فرموده چنانچه قصايد غوث الثقلين ومکاتيب حضرت مجدد الف ثانی وتصانيف شيخ اکبر ازان مملو است. "واما بنعمت ربک فحدث" يعنی به نعمت پروردگار خود سخن بگو.

اظهار نعمت اولياء لره جائز دی

پښتو ترجمه: اولياء الله لره دا جائز دی چه اظهار د نعمت وکړی چه الله تعالی دوی ته کوم نعمت ورکړيدی او هغه مرتبه او درجه د قرب الهی چه الله تعالی په فضل کرم سره و دوی ته ور عطاکړيدی چونکه قصيدی

دغوث الثقلين او مكاتب دمجد الف ثاني او تصانيف د شيخ اكبر ددينه ډك دي همدارنګه الله تعالى په قرآن كريم كى فرمائى (واما بنعمت ربك فحدث) يعنى په نعمت د الله تعالى سره اظهار وكړى

رسول كريم ﷺ فرموده

"ان الحديث بنعمه" شكر يعنى سخن گفتن بنعمت شكر نعمت است كه آنرا اظهار نمايد چراكه حق تعالى مى فرمايد: ﴿ لئن شكرتم لأزيدنكم ولئن كفرتم إنّ عذابي لشديد ﴾ يعنى اگر شكر خواهيد كرد نعمت زياد خواهم كرد واگر كفران نعمت خواهيد كرد هر آئينه عذاب من شديد است حق تعالىٰ بر كفران نعمت عذاب شديد گفته.

او همدارنګه حضرت رسول اكرم ﷺ فرمائى

پښتو ترجمه: چه تحدث يعنى خبرى كول په نعمت دالله تعالىٰ سره دا شكر دى چه ته دهغى اظهار وكړى او بل ځائى الله تعالىٰ فرمائى كه چيرته تاسو زما دنعمتونو شكر ادا كړو نوزه به تاسوته نورهم مزيد كرم او كه تاسو زما دنعمتونو ناشكرى اوكړه نو بيا زما عذاب ډير سخت دى.

و ديلمى در فردوس وابونعيم درحليه روايت كرده كه عمر بن الخطاب بر منبر برآمد وگفت «الحمدلله الذى صيرنى بحيث ليس فوقى احد» يعنى حمد بر خدائى

راست که مراچنان کرد که کسی بالاتر از من نیست
پستر از منبر فرود آمد مردم ازوجه این سخن پرسیدند
گفت نگفته ام مگر برای شکر نعمت.

او همدارنگه دیلمي په فردوس کی
او ابونعیم په حلیه کی

پښتو ترجمه: روایت کړیدی چه حضرت عمر بن الخطاب ﷺ یوه ورځ د ممبر دپاسه وختلو دخطبی په وخت کښی دالفاظ ووئیل چه الله تعالیٰ لره دی حمدوی هغه الله چه زه دومره اوچت کړی یم چه خمانه بل څوک اوچت نشته ددینه بعد دممبرنه راکوز شو بیا صحابه کرامو تپوس اوکړ چه دادی دځه وجه ووئیل حضرت عمرﷺ په جواب کښی ورته ووئیل چه ما اماندی وئیلی لیکن د اظهار د نعمت په خاطر می ووئیل او دشکر ادا کولو په خاطر می ووئیل.

ابن ابی حاتم از مقیم روایت کرد

که باحسن بن علی ﷺ ملاقات کردم پس مصافحه نمودم و از تفسیر «واما بنعمت ربک فحدث» پرسیدم فرمود که اگر مرد مسلمان عملی صالح کند خبر دهد ازآن مردم خانه خودرا، درین باب احادیث واقوال صحابه وسلف صالح بسیار است.

ابن ابی حاتم د مقیم نه روایت کړیدی

پښتو ترجمه: چه د حسن بن علیؓ سره می ملاقات وکړو پس مصافحه می ورسره وکړه او ددی آیة کریمه د تفسیر (واما بنعمت ربك فحدث) پوښتنه می ورځنی وکړه چه مسلمان سړی عمل صالح وکړی دهغی نه دی خپل اهل خبر کړی په دی متعلق احادیث مبارك او اقوال د صحابه کرامو او اقوال د سلف صالحینو ډیر دی.

سوال

اگر گفته شود که حق تعالی از تزکیه نفس خود تفاخراً منع فرموده وگفت «لاتزکوا انفسکم» یعنی نفس خودرا به پاکی یاد مکنید.

جواب داده شود

که تزکیه نفس و اظهارات نعمت در صورت باهم التباس دارند لیکن در حقیقت مغایر اند اگر کمالات را بنفس خود نسبت کند ونسبت آنرا بخالق فراموش نماید آن تزکیه نفس است وتکبر است مذموم واگر آن را نسبت به خدای تعالی کند و خودرا فی نفسه منشاء شرداند و اتصاف خود بوجه عاریت بحول وقوت الهی بان کمال دانسته شکر الهی بجا آرد آنرا اظهار نعمت گویند این معنی هرچند در نظر عوام التباس دارد لیکن نزد خدا

التباس نـدارد «والله يعلـم المفسـد مـن المصـلح» حق تعـالى ميداند مفسد را جدا از مصلح.

که څوك سوال وکړي

پښتو ترجمه: چه الله تعـالى دتزکيه دخپل خان نـه منع فرمـانيلى ده او فرمـائى پـه قـرآن کـريم کښـى «ولاتزکـوا انفسـكم» يعنى دخان پاکى مه بيانوى.

جواب ددى خبرى دادى

پښتـو ترجمـه: چـه تزکيـه دنفـس او اظهـار پـه صـورت کښـى التبـاس لـرى لـيکن پـه حقيقـت کښـى مغـاير دى او فرق د دوى ترمينځ دادى كه چيرى ديو كمال نسبت خپل خان ته وکړى او الله تعـالى هيرکړى ديتـه تزکيـه دنفـس او تکبروانـى چـه مذموم دى او کـه چيرى ددغه کمال نسبت الله تعـال تـه وکـړى او خپـل خـان هيرکـړى او خپـل خـان منشـا دشـر او دفسـاد وګنـړى او دغـه صـفت چـه ده تـه الله تعالى ورکړيدى صرف په توفيق د الله پورى مربوط شى او ددى شـکر ګـزار شـى ديتـه اظهـار دنعمـت وائـى دغـه معنى كه څه هم دعوامو په نظر التباس لرى لـيکن د الله تعـالى پـه نـزد التبـاس نـه لـرى او الله تعـالى علـم لـرى او پيژني مفسد د مصلح نه.

از اولیاء الله که از رذایل پاک اند متصور نیست مگر اظهار نعمت

پس اگر این امر از اتقیا به ظهور آید اعتراض برو نشاید که حسن ظن مامور به است لیکن مرید را باید که از مکر نفس ایمن نباشد وکمالات خودرا در خیال نیارد ونفس خودرا همیشه متهم دارد وچون به مرتبه تکمیل رسد و به شهادت اکابرو الهامات متواتر ملهم شود آن زمان اظهار کند تا مردم منزلت او دریافته از او استفاده نمایند ومشتاق آن کمالات شوند.

اظهار د نعمت داولیاء صفت دی

پښتو ترجمه: اولیاء الله چه د رزائیلو دنفس نه پاك وی دهغوی نه بل څه نه متصوریږی لیکن اظهار دنعمت اوس که دغه کارچه صفانی دخپل خان ده د اتقیاء ونه ظاهرشی نو بیا اعتراض کول په دوی باندی مناسب ندی بلکه په حسن ظن باندی مسلمان مامور دی ولیکن مرید لره پکاردی چه دمکر او فریب دنفس نه بی غمه نشی او خپلو کمالاتوته متوجه نشی بلکه خپل نفس به همیشه ملامت گنړی بیا کله چه مرتبی دتکمیل ته وره سیږی او په شهادت د اکابرو سره او الهاماتو متواترد سره ملهم شو هغه وخت به بیادی اظهار دنعمت کوی

دپاره ددی چه خلق دهغی مقام وپیژنی او دهغی نه استفاده وکړی او خواهش مند دهغی کمالاتو شی.

قابل ذکر:

ددی رسالی تدوین په پښتو ژبه لدی کبله مرعی شوه چه دمعترض اعتراضونه په پښتو لسان کی ؤ په خلاف ددی، زمونږ اکثر مداونات او مصنفات په عربی لسان کښی دی، بالفرض که په عربی ژبه خوابونه لیکل شوی وی نو، یوخو اکثرو پښتو خوانانوته تفهیم متعذر کیده. دویم خواب باید موافق دسوال وی لدی کبله می لوستونکوته عرض وکړ چه ددی عجالی او رسالی په پښتو ژبه لیکل علت د معترض د سوالونو سره موافقت ؤ ومن الله التوفیق.

و صلی الله علی خیر خلقه ونور عرشه محمّد وآله و اصحابه اجمعین برحمتك یا ارحم الرّاحمین وتمت بالخیر

عام اهل اسلام ته

اظهار د حقیقت

بسم الله الرحمن الرحیم

عام اهل اسلام ته دیو اهم حقیقت وضاحت کول غواړو.

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم وعلی آله واصحابه و اتباعه واهل بیته وعترته اجمعین.

اما بعد زه فقیر آخندزاده سیف الرّحمٰن بن قاری سرفرازخان بن محمد حیدر حنفی مذهباً ماتریدی اعتقاداً نقشبندی مشرباً کوټ ننګرهار مولداً ارچی ترکستان موطناً باړه منډیکی کهجوری مسکناً تمام اهل اسلام ته عموماً او علماء کراموته او مشائخ عظاموته خصوصاً یو اهم حقیقت واضح کول غواړم.

د حقیقت اظهار

او هغه دادی چه الحمد لله ثم الحمد لله ثم الحمد لله زه د الله تعالیٰ ﷻ یو عاجز بنده یم چه په اعتبار د ذوق سره په تمام مخلوق کښی بل هیڅ څوك دخپل ځان نه ادنیٰ په نظر نه راځی او دخاتم النّبیّین حضرت محمّد رّسول اللهﷺ یو عاجز امتی یم او دحضرت محمّد رّسول اللهﷺ په ختم نبوت باندی کلك اعتقاد ساتم او په فروعو او فقه کښی د سراج الامت حضرت امام اعظم ابوحنیفة نعمان بن ثابت کوفی رحمة الله علیه مقلّدیم او په علم کلام او عقائدو کښی د اهل سنت والجماعت عظیم پیشوا حضرت امام ابومنصور ما تر یدی رحمه الله تابع یم او په تصوف او طریقت کښی دحضرت خواجه بزرګ اهل الطریقت

النقشبندية محمّد بهاءالدين شاه نقشبند قدّس سره او حضرت خليل يزدانى امام ربانى مجدّد الف ثانى الشيخ احمد فاروقى سرهندى قدّس سره او حضرت غوث الثقلين غوث الصّمدانى الشيخ عبدالقادر جيلانى قدس سره او حضرت خواجهٔ بزرگ معين الدين چشتى اجميرى قدس سره او حضرت خواجهٔ بزرگ شيخ شهاب الدين سهروردى قدس سره ددغه عظيمو هستيو د تعليماتو تابع يم او ددغه بزرگانٍ دين باالواسطه مريد يم.

امتثال د اوامرو او اجتناب د نواهي

او عملاً زه دټولو اوامرو امتثال كوم لكه فرائض واجبات سنّت مستحبات حتّٰى چه دسنتو او مستحباتو ترك هم نه كوم او كه په خپلو مريدانو كښې ترك دسنتو خوځه بلكه

چه ترك د مستحباتو وګورم نوهم تهديد کوم نی او پری خفه کیږم.

همدارنګه اجتناب دنواهیُونه کوم لکه محرّمات مفسدات مکروهات مشتبهات حتّٰی چه یومکروه یا یو اشتباهی فعل هم نه کوم او که په خپلو مریدانو کښی یو مکروه عمل خو څه بلکه یو اشتباهی فعل او عمل اوګورم نو ترینه منع کوم نی او پری خفه کیږم.

مثال د وضاحت دپاره

مثلاً زمونږ دحضرت امام اعظم ابوحنیفة نعمان بن ثابت رحمه الله د مذهب دا مسئله ده چه مصلی به په قیام کښی دخپو ترمینځ مسافه دڅلورو ګوتو په اندازه پریږدی او که ددینه زیات یا کم وی نو دامکروه دی نو ماخپل مریدان اوخامون متعلقین په تولو

کښي دا عمل جاري کړيدی دا ځکه چه د کراهيت نه خان ساتم او په مستحبو سره عمل کوم.

همدارنګه که په يوفعل کښي رخصت او عظيمت متعارض واقع شي بيا زه عمل په عظيمت سره کوم او خپل اهل او مريدان مي هم پدی سره مامور ګرځولی دی چه تاسو به عمل په عظيمت سره کوی دا ځکه چه زمونږ طريقه نقشبنديه ده او نقشبنديان عمل په عظيمت سره کوی.

بل مثال دتوضيح دپاره

مثلاً لکه سپينه جامه او رنګه جامه چه دوانړه لباس شرعی دی ليکن په سپينه جامه کښي عظيمت دی ځکه چه پيغمبر ﷺ فرمائي (احسن الثياب ابيض) نوزه او زما اهل بلکه زما مريدان اکثره سپين لباس

کوی همدارنګه د سرخرول او څنړی پری بسودل دا دوانړه شرعی عمل دی لیکن څنړی پری بسودل عظیمت دی نو ما او زما مریدانو اکثرو څنړی پری ایښی دی.

عمامه شریف سنت ده

همدارنګه د رسول اکرم ﷺ نه عمامه ثابته ده چه سنت ده ځکه پیغمبر ﷺ فرمائی (علیکم بالعمائم فانها سیمآء الملئکة) او دلته کلمه دعلی راغلی ده او دا په اتفاق د اصولینو سره دلزوم دپاره راځی یعنی لازم دی په تاسو باندی پټکی وهل لیکن دلته مطلق ذکر دعمامی راغلی دی شمول دوانړو قسمونوته کوی سوداء او بیضاء یعنی توره او سپینه اما پیغمبر ﷺ سپینه جامه خوښه کړیده لکه چه مخکی تیر شو نوزه او زمامریدان اکثره سپین پټکی وهو وغیر وغیره مشت نمونهٔ خروار.

بيان د منكرينو دعناد او حسد دفقراء طريقت سره

لــيكن پــه دى خبــره كنبــى دباشــعوره مسـلمانانو پـه نـزد څـه خفـاء نشـته چـه پـه هـره زمانــه كنبــى د اهــل حــق او فقــراء طريقــت حاســدين او متعصــبين موجــود وى چــه د قسماقسم افترا ګانو پـه ذريعـه سـره دكـم فهمـه مسـلمانانو پـه زړونـو كنبـى فاسـد شـكوك او شبهات غورخوى او د اولياؤ كرامو پـه خـلاف ئى راپورته كوى ليكن شكر الحمد لله ثم وثم چه اهل حقو په هره زمانه كنبى دخدائى په فضل و كرم سره منكرينو او حاسدينو معاندينوته خوله ماتونكى جوابونه وركړيدى او مسـلمانان ئـى دمنكرينو ددجل اوفريب څخه خلاص كړيدى او سـيده لاره د اسـلام ئـى مسـلمانانوته وربنودلى ده.

دسابقه زمانی د اولیاءُ الله سره دمنکرینو عناد

لکه څرنګه چه د مولانا خالد نقشبندی قدّس سره حاسدینو د هغه خلاف مختلف قسم غلطی پُرپګنډی شائع کړی وی او په قسما قسم افترا ګانو سره ئی د هغوی شخصیت بابرکت مجروح کړی وُو لیکن مفتی محمّد آمین بن عابدین شامی قدّس سره د دغه منکرینو په تردید او دمولانا خالد نقشبندی قدّس سره په تائید او حمایت کښی د سل الحسام الهندی په نوم رساله ولیکله او منکرینو ته ئی خوله ماتونکی جوابونه ورکړه او د منکرینو افترا ګانی هباءً منثوراً وګرځولی او مسلمانان ئی دمنکرینو د دجل او فریب نه

خلاص کړو او د صحیح العقیده باجرئته مسلمانانو سترګی ړندی اوچتی کړی او دضعیف العقیده ساده لوحه مسلمانانو عقیدګانی ورمحکمی کړی.

د اوس زمانی د اولیاء سره عناد دمنکرینو

همدغه رنګه په دی موجوده زمانه کښی پیر محمد چشتی چترالی مهتم مدرسهٔ غوثیهٔ معینیه یکه توت پشاور د فقیر سیف الرّحمٰن متعلق مختلف قسم غلطی پرُپګندی او افترګانی شروع کړیدی او حالانکه دنن نه تقریباً دوه کاله مخکی پیر محمد چشتی زما په خانقا کښی د متواترو عینی ګواهانو په حضور کښی دیو پنځوس (۵۱) متعلق بالکسب قرآنی آیتونونه انکار اوکړو او دائی وونیل چه کسب د بنده په قرآن کښی نشته او الله تعالی ته نی

کاسب وونیلو یعنی چه هرڅه الله تعالٰی کوی او دبنده نه ئی کسب نفی کړو یعنی چه بنده هیڅ نشی کولی نو ماورته دتوبی دعوت ورکړو چه توبه وباسه داخودی انکار دقرآن کریم نه وکړو او انکار کول د قرآن کریم نه دا کفر دی، اوبنده ته کسب په قرآن کښی ثابت دی (لها ماکسبت وعلیها ماکتسبت) وغیره وغیره نور آیاتونه متعلق د کسب می ورته تلاوت کړو چه تقریباً هغه مونږه راجمع کړیدی یو پنځوس آیتونه دی زیات وکم دکسب متعلق.

ازلی بدبختی دی خدائی چاته نه ورپه برخه کوی

لیکن چونکه دا بدبخته ازلی بد قسمته وو په خای ددی چه دی دتوبی لاره اختیار کړی ده ظالم دسرکشی او عنادلاره اختیار

کړه او بیانئ ماته یوخط راولیږلو چه په هغه خط کښې ئې دجبر په عقیده تصریح کړې وه او دموجوده زمانې تمام مشائخ طریقت ته ئې رسمي پیران ونیلي وو او دمعرفت خداوندي دا فضلیت نه ئې انکار کړې وو او دشیعه ګانو او دمنکرینو عصمت انبیاء علیهم السلام دباطلو عقائدو تائیدئې هم کړې ووُ او دلطائفو په حرکت او وجدوحال پوري ئې استهزا ګانې هم کړې وې او په متعدد مواضعو کښې ئې زماتکفیر هم کړې ؤُو او په دې خبره ئې زور لګولې ؤُو چه ماپه تاباندې ګرفت کړیدې ماته جواب راکړه او که جواب دې رانه کړو ته به دشریعت نه تښتې اولاجواب به ئې.

د خط جواب مو ورولیږلو

نو بیا مونږ دپوره تحمل نه بعد دعلمی او شـرعی دلائلـو نـه ډك كتـاب (هدایـة السالكین) ددغه گستاخانه خط په جواب كښې ولیكلو لیكن كله چه هدایة السالكین شائع شو نو پیر محمد چترالئی چه خپل خان ولیدو چه رسوا شوم او په شرمونو وشرمیدم نو بیانورهم د اغیارُ په تحریك وغولیدلو او دحق قبلولو نه ئی اعراض اوكړو او زما مخالف ئی دمختلف قسم افتراگانو او بازاری كنځلو تقریری او تحریری سلسله گرمه او ساتله اوځای په ځائی دغلطو پروپكنډونه ډك الفاظ استعمال كړه او افترگانی او دروغ ئی ځائی په ځائی راپسی وونیلو.

دپیر محمد چترالی افتراء او بهتان

پیر محمد چترالی په خپلو اشتهاراتو کښی لیکلی دی چه دکهجوری پیر سیف الرّحمٰن وائی چه دیوبندیان په صراط مستقیم ندی برابر اودا کوړی علماؤته نی کافر وئیلی دی وغیره وغیره نوزه وایم چه دا عظیمه افتراء ده کومه ده زما فتویٰ یازماکسیټ یا زما دستخت خوك دی وښائی زما خپل بیان چه ماکړیدی دهغی نه خلقو غلط استدلال کړیدی هغه دادی

زه نه دیوبندی نه بریلوی یم

بلکه سنی حنفی یم هرسړی چه حنفی وی هغه زما ددین (اسلام) او مذهب حنفی ورور دی خواه که هغه دیوبندی وی اوکه بریلوی وی داځکه وایم چه مخکښی تیرشو چه زه دافغانستان یم او استاذان می ټول د افغانستان علماء دی او زما پیر مبارک هم

دافغانستان دی اوس که باالفرض زه یوطرفته خان منسوب کړم نو زه به قائل دځلورو دروغو شم نعوذ باالله منها خکه چه زه نه دبریل د علاقی یم او نه د بریل دمدرسی نه فارغ یم او نه دبریل دعلماؤ مریدیم او نه دبریل دعلماؤ شاګردیم.

همدارنګه نه د دیوبند دعلاقی یم او نه ددیوبند دمدرسی نه فارغ یم اونه ددیوبند دعلماؤو مریدیم او نه ددیوبند دعلماؤ شاګردیم نو اوس که خان هرطرفته منسوب کړم نعوذ باالله مرتکب دځلورو ګناه کبائرو به شم چه دروغ دی نو خکه دا وایم چه نه دیوبندی نه بریلوی یم بلکه سنی حنفی یم.

د پیر محمد او دمنکرینو بله افتراء او بهتان

پیر محمد چترالی په اکثرو اشتهاراتو کښی لیکلی دی چه دباړی کهجوری پیر

سیف الرّحمٰن دنبوت دعویٰ کړیده نعوذ بالله منها او په هدایة السالکین کښې دیو نقل شوی خوب (کوم چه صوفي روستم خان لیدلی دی) نه ئې فاسد استدلال کړیدی چه صوفي روستم خان صاحب خوب لیدلی دی چه نبی اکرم ﷺ فقیر سیف الرّحمٰن په مانځه کښې امامت ته مخکښې کړو (نو لهٰذا دا دنبوت دعویٰ شوه) کلاّ وحاشا هذا بهتان عظیم حالانکه په هدایة السالکین کښې ددی خوب دنقل کولو سره سره داهم لیکلی شوی دی چه داخوب دلالت په وراثت باندی کوی لکه څرنګه چه په عیسٰی علیه السلام امام مهدیؓ لره په مانځه کښې امامت ته مخکښې کړی هم دغه رنګه دنبی ﷺ هم دحضرت ابوبکر صدّیق او د عبدالرّحمٰن بن عوف مبارکانو شاته په مانځه کښې اقتداء

ثابتـه ده نـو دابـه اوس څرنګـه دعـوئ دنبـوت شی بـل دا کـه چیـری نبـی ﷺ تـه امامـت ورکـول دعـوئ دنبـوت وی نـو بیـا ددی منکـر ګمراه پیرمحمـد دحضـرت ابوبکر صـدیق رضی الله عنه او عبدالرّحمٰن بن عوف رضی الله عنه او امـام مهـدی رضی الله عنه متعلـق څـه خیـال دی آیـا هغـوی تـه بـه هـم دنبوت مدعیان وائی نعوذ باالله منها.

زه دختم نبوت اعتقاد ساتم او منکرئی کافر ګنړم.

دا خبره به په اکثره مسلمانانو مخفی نه وی چـه مـاپـه خپـل کتـاب جوابـات سیفیه کښـی او تشریحات ضیائیه کښی دختم نبوت مسئله په محقق انداز بیان کړیده بلکه اوس هم دا وایم چه زه نه نبی یم او نـه دنبـوت دعـوئ لـرم بلکـه درسـول اکـرم ﷺ نـه روسـتـو چـه څـوك دعـوئ د نبـوت کـوی او یاددغـه متنبّـی څـوك تصـدیق کـوی نـو دغـه کس تـه زه کافر او زندیق وایم لکه

څرنګه چه د اهلسنت والجماعت اجماعي عقيده ده دنبوت دعوئ خو مرزا غلام احمد قادياني کړې وه چه دهغې دپاره ئې دکتابونو په شکل کښې باطل دلائل پيش کول او زه خو دالله تعالیٰ يو ادنی ترين بنده يم او ددې قسمه کفري دعوې ګانونه مبرّاء يم.

د يوبل منکر تعارف او دهغه تباهي د دنيا او اخرت

همدغه رنګه يو بل منکر داولياء الله په نن عصر کښې محمد نامې دحضرت مولانا صاحب محمد هاشم سمنګاني قدّس سره نا اهله او ناخلفه خوی دی چه دفقير سيف الرّحمٰن مخالف ئې پروپګنډې او افتراګانې او قسماقسم بهتانونه شروع کړيدي حالانکه محمد نامې زمونږ مريد او شاګرد وؤ کوم وخت چه حضرت مولانا صاحب قدّس سره ددنيانه رحلت وکړو دغه محمد

نامی تقریباً د دوه لږ کالو په عمر پاتی شو بیا مونږ دمولانا صاحب قدّس سره په خاطر دده روحی تربیه وکړه چه زما نه مرید هم شو او سبقونه ئی هم زمونږ په مدرسهٔ سیفیه کښی ووئیل بیا پدی مینځ کښی څه موده تیره شوه چه تقریباً دوه ویشت کاله مونږ دده ظاهری تربیه او باطنی تربیه کړیده.

دمحمد نامی سره زمونږ احسانات

او په هره میاشت کښی می دوه زره کلداری ورلیږلی افغانستان ته کوم چیرته چه به دی ؤو بیا کله چه په افغانستان باندی امریکا تسلّت وکړو پس دهغه نه ده هجرت وکړو مونږ دلته خپل خانی ته باړی ته راوستو او دکور ټول خرچه مې په ذمه واخسته بلکه دری وخته به می دخپل کورنه پخه ډوډی او ننګلی شورو ئ یا بل څه چه

نامي تقريباً د دوه نيم کالو په عمر پاتې شو
بيا مونږ دمولانا صاحب قدّس سره په خاطر
دده روحي تربيه وکړه چه زما نه مريدهم شو
او سبقونه ئې هم زمونږ په مدرسهٔ سيفيه
کښې وونيل بيا پدې مينځ کښې څه موده
تيره شوه چه تقريباً دوه ويشت کاله مونږ
دده ظاهري تربيه او باطني تربيه کړيده.

دمحمد نامي سره زمونږ احسانات

او په هره مياشت کښې مې دوه زره
کلداري ورليږلې افغانستان ته کوم چيرته
چه به دي ږو بيا کله چه په افغانستان
باندې امريکا تسلّت وکړو پس دهغه نه ده
هجرت وکړو مونږ دلته خپل ځائې ته باړې
ته راوستو او دکور ټول خرچه مې په ذمه
واخسته بلکه دري وخته به مې دخپل کورنه
پخه ډوډې او ننګلي شورو ئې يا بل څه چه

ما خپل په کور کښې خوړل دامې ورته مقرر کړو او د کور نور حوائج مې هم ورته پوره کړو مثلاً کولری ایرکنډیشن (یعنې ایسی) وغیره وغیره شیان مې ورته واخستو او په مریدانو مې غږ اوکړو چه دا مسافر دی او خمونږ دپیر مبارک خوږ دی تاسو هم امداد ورسره وکړی بیا دحضرت مولانا صاحب مرحوم مبارک په عرس کښې مې چنده ورته وکړه تقریباً اویا اتیا زره کلداری مې ورته جمع کړی او بیا مې ورته ورکړی او تقریباً څه کم دوه کاله مې دلته دخان سره وساتلو او خدمتونه مې ورته وکړو.

د محمد نامي ناشکري او نعمت فراموشي

ددینه بعد محمدنامی زمانه پټ پټ اعتراضونه شروع کړی وُو چه زه بیا وروسته پری خبر شوم او دپیر محمد چشتی چترالی

په قدم ئې قدم کېښودو حتّیٰ چه بیابه په صحبت کښې ناست وُو ماته به نې ښې راواړه ولو بیاهم ماپرې حسن ظن کولو یوه ورځ مې دمولوي محمدشاه روحاني صاحب ښځه پوښتنه وکړه چه ملامحمد ولي ښې ماته را اړه وي روحاني صاحب راته ووئیل چه دې وائي چه ماته آخندزاده صاحب توجه وکړې نوزه تنګیږم وغیره پس دهغه نه ما ورته ووئیل چه دومره اسانه تنګیږې بیادې بل چیرته لاړ شي دهغه ځائې نه دې ځي راځي بیا دهغه نه پس ځنې دوستان دده عذرته راغلو او پس دهغه نه ماعفوه ورته وکړه او بیا ددې خانګې نه په خوشحالي سره لاړو مهاجر بازارته پس دهغه نه هم دوه ځلې او که یو ځلې راغلو بیا سرې منع شو.

دخپل ځان تباهي او ځان ته وبنيار وئيل

بعد ددينهٔ بياماته يوخط راليږلی وو چه لس اعترضات ئې پکې ليکلي وو اوهر اعتراض ئې په مابانـدی يـواځی نـه بلکـه پـه فقهـاؤ کرامو باندی داغ لګول وو ځکه هغـه مسـائل چـه ده تـری انکـار کـړيـدی زمونـږ دمـذهب فقهـاؤ کرامـو پـه ډيـر اوضـحه طريقـه ثبـوت دهغـی مسـائلو کـړيدی او ددينـه عـلاوه ئـی داسـی ګسـتاخانه الفـاظ مسـتعمل کـړی وو چه ماتهٔ پکی ديهودودمعـاون نسـبت کـړی ؤو او پـه خـو ځـايونو کښـی ئـی زمـا تکفيـر هـم کړی ؤو او نور بهتانونه او افتراګانی ئـی هـم را بانـدی لګـولی وی او نـور مختلـف قسـم ګسـتاخانه الفاظ يې مستعمل کړی وو.

اعلاميه او خبرتيا دمحمدنامي دعاق نامي په اړه

بعد ددينه بيامونږ يورساله وليکله مختصر مي دمحمدنامي جوابونه وکړو او دده کوائف مي مختصر بيان کړو او بيامي دده ددغه ناوړه عمل په خاطر سره دده عاق نامه هم اعلان کړه چه نور مسلمانان دده دشرنه خان بچ کړي او نور خلق هلاک نه کړي اوس که څوك دا وائي چه داخو ستا دپير څوئي ؤو او ستا صاحب حق ؤو نو هغوی ته دومره جواب کافي دي چه

(دغه بيت ته نظر وکړي)

سگ اصحاب کهف پئ نيکان گرفت مردم شود
پسر نوح با بدان نشست خاندان نبوت وی گم شود

او الله تعالى دهغي په حقله فرمائي:

(انه ليس من اهلك) نو ده خپله خان دحق داری نه خارج کړو ماخو دده عزت کولو

اوس که څه هم دی زما د پیر خوی وی خوبل
خواته زه دده استاذ او دده پیریم او دده پلار
خما په حقله دا ی فرمائیلی دی چه (مقبولهٔ
مقبولی و مردودهٔ مردودی) اوس دی دخپل
پلار په قول سره هم مردود او عاق
وګرځیدلو ایا دده پلار ته به زه دومره هم نه
وم معلوم ایا دده پلار نعوذ باالله منها
دومره ناپوه او بی تجربی سړی وو چه زما
په حق کښی د مردودهٔ مردودی او مقبولهٔ
مقبولی فرمان خپلو مریدانو ته صادره ولو
وغیره وغیره نو اصلی خبره داده چه دا
دمحمد نامی خپله بدګمانی ده په خپل پلار
باندی چه مونږ ته نی ښکاره کړه او داد ده
خپل حماقت دی چه هرچاته څرګند شو.

ټولو مسلمانانوته زمونږ دا درخواست دی

فلهذا پمدی سلسله کښې مونږ تمام اهل اسلام ته عموماً او علماء کرامو مشائخو عظامو ته خصوصاً بذریعهٔ اشتهار هذا خبرورکوو چه دپیر محمد چترالی او دمحمدتامی نمك حرام په غلطو پروپکنډو سره خطا نشی او په یوسنّی حنفی شیخ طریقت باندی بغیره حق نه بدګمانی ونه کړی ځکه چه کله یوسړی یو صحیح العقیده مسلمان ته بغیرد حق نه کافر یافاسق اووائی نوهغه کافر ویونکی په خپله کافر کیږی ځکه حضرت رسول اکرمﷺ فرمائی چه (لایرمی رجلٌ رجلاً بالفسوق ولایرمیه بالکفر الاّ ارتدّت علیه ان لم یکن صاحبه کذالك)

د مفتري په افترا سره خان مه هلاکه وه

نو لهٰذا ټول مسلمانان دی خبروی چه دغه مذکور دوه کسان د انسی شیطانانو په صف کښې ولاړ دی او مسلمانان دلاری نه اړه وی او په ګمراهی او د اولیاءُ الله په دشمنی کښې واقع کوی تاسو ددی مفتریانو او کذّابانو او دجالانو په خولو سره دهوکه نشی د تبیین او تحقیق معلولو دپاره تاسو مهربانی وکړی ټول مراجعه وکړی خما ودغه کتاب ته چه دا زما خپل تصنیف دی جوابات سیفیه او یا (هدایة السالکین) د اول نه تر آخره پوری د انصاف په نظر سره مطالعه کړی هغه هدایة السالکین چه هغه زمونږ دی چه بل چا پکښې لاس وهنه نوی کړی او دمولانا ضیاء الله علمی کتاب

(تشريحات ضيائيه) او يا دمولانا ضياء الله
بل علمی کتاب (سيف القهار علٰى تلبيس
الكفار) او يا دمفتی غلام فريد هزاروی
کتاب (سل الحسام الهندی لنصرة مولانا
سيف الرّحمٰن النقشبندی) او يا د علامه بلخی
صاحب کتاب معمولات سيفی او حج
البيّنات او تاريخ اولياء او دمولوی يوسف
دوه کتابونه (درّة البيان فی سيرة آخندزاده
سيف الرّحمٰن او منهج قدسيه فی کيفية
اسباق الطريقة القادرية) دغه مذکور
کتابونه تاسو مطالعه کړی تاسوته به ددی
فقير حقيقت او دپير محمد چترالی او
محمد نامی نمك حرامی دجل او فريب ثابت
شی.

اظهار د دنعمت اوشکر دنعمت

الحمدلله دفقیر په حاقه بیعت کښی په هزارها جید علماء او مشائخ کرام د اهلسنت والجماعت شامل دی چه جملی دهغه نه حضرت العلامه مولوی محمد نبی محمدی امیر حرکت اسلامی افغانستان همدارنګه حضرت العلامه بحر العلوم مولانا عبدالحی زعفرانی صاحب امیر سمت غرب حرکت اسلامی افغانستان همدارنګه حضرت العلامه مولانا محمد سخی صاحب امیر سمت غرب حرکت. همدارنګه حضرت العلامه صاحب تالیفات کثیره مخزن العلوم مولانا ابوالاسفارعلی محمد البلخی صاحب همدارنګه حضرت العلامه شیخ المشائخ شیخ القرآن والحدیث مولانا حمدالله جان الداجوی صاحب چه دبیعت.

اصل واقعه مونږ په کتاب مجموعة الحقائق
کښې درج کړیده سره دخلافت همدارنګه
رئیس المفسرین حضرت العلامه مولانا
ضیاء الله الباجوری همدارنګه حضرت
العلامه شیخ الحدیث مفتی غلام فرید
هزاره وی کجران واله همدارنګه جامع
المعقول والمنقول فیلوسوف بی بدل
حضرت العلّامة مولوی صنوبر خان صاحب
وغیره وغیره چه نومونه دهغوی مونږ په
هدایة السالکین کښې درج کړیدی او که
دټولو نومونه دلته ذکر کوم نو بیا طوالت
راځی په دی وړه رساله کښې دا قدری هم
کافی دی عاقل ته اشاره هم کافی ده (قیاس
کن زګلستان من بهار مرا) عن المرء
لاتسئل وابصر قرینه، فان القرین بالمقارن
مقتدی.

دتوجه وړ خبره او دمنکر خوله ماتول

نو آیا دیو غلط العقیده سړی پلاس باندی هم داسی لوی لوی جید علماء د اهلسنت والجماعت بیعت کولی شی کلاّ وحاشا ماخپلو خلفاؤ ته اته ویشت زره اسانید لیکلی دی اودخپل دستخت سره می په هرسند کښی داسی لیکلی دی چه (الفقیر سیف الرّحمٰن آخندزاده پیرارچی خراسانی) بله کومه باطله دعویٰ مانده کړی دا صرف دمنکرینو حاسدینو متعصبینو افتراګانی دی فلهٰذا په تاسو باندی تبیین ضرور دی خکه چه الله تعالیٰ فرمائی (ان جائکم فاسق بنبا فتبینوا ان تصیبوا قوماً بجهالة فتصبحوا علیٰ مافعلتم نادمین) همدارنګه حضرت رسول اکرمﷺ فرمائی (کفیٰ بالمرء کذباً ان یحدّث بکل ماسمع).

اهل حقوته دپیر محمد غوندی اودمحمد نامی غوندی افترا بازی هیڅ ضرر نشي رسولی.

واذا اتتـــك مـــذمتی مـــن نـــاقص
فهـــی شـــهادة لـــی بـــانی کامـــل
هرکـــه عصـــیان کـــرده او شـــیطان شـــود
اوحســـود دولـــت مـــردان شـــود
نقشـــبندیه عجـــب قافلـــه ســـالاراند
کـــه برنـــداز ره پنهـــان بـــه حـــرم قافلـــه را
طـاعتی گرکنداین طائفـه را طعـن قصـور
حاشـــالله کـــه بـــرارم بزبـــان ایـــن گلـــه را
همـه شیران جهـان بسـته ایـن سلسـله را
روبه ازحیله چسان بکسلد این سلسله را
حســـد لا لفتـــی اذا لـــم ینـــالوا ســـعیه
فا لکـــل لـــه اعـــداء وحســـود
کضـــر آئـــر الحســـناء قلـــن لوجهـــا
حســـداً و بغضـــاً انـــه لأمـــیم

وما علينا الّا البلاغ

فقط وسلام مع الاحترام

له طرفه دفقير سيف الرّحمٰن پير ارچی

خراسانی

حالاً ساکن بارہ کهجوری منڈیکس

پشاور پاکستان

خادم دين واهلسنت والجماعت

دستخط